


سپرلے دے په لمبو کښي

محمد زرین پرَیشان

# اعتراف



زرین پرېشان د ننني عهد هغه حساس او باشعوره شاعر دے چې نهٔ یواځې د خپل عصر، معاشرې او وطن د حالاتو ژور شعور لري بلکې د یو قلمکار په حېث خپلې منصبی ذمه وارۍ هم پېژني او دَ خپل اولس دَ فکري رهنمایۍ د فرائض نه هم خبر دے او دَ ادب دَ پاره دَ ژوند دَ نظریې ملګرےاو پلوی دے ځکه شاعری ئې دَ خپل عصر او ماحول دَ حالاتو نهٔ یواځې عکس و نقش لري بلکې د هغو دا بدلون او نوی تعمیری جذبې او توانائۍ نه ډکه دَ مخکښې تګ د حرارت او حرکت په حسن او صداقت هم پوره او کره ده.

زرین پرېشان دَ یوې طبقاتی معاشرې غړے او یو بیدار مغزه لیکونکے دے ځکه په شاعرۍ کښې ئې دَ خپل عصر دَ سیاسی حېثیت په تناظر کښې طبقاتی شعور په هر لحاظ ښکاره دے چې لوستونکو ته دَ فکر و نظر دَ رڼا په ورکولو، دَ دې شعور دَ عام کولو او دَ طبقاتی حېثیت خپلې تجربې نورو ته دَ منتقل کولو فنکاره صلاحیت هم لري.

زرین پرېشان دَ خپل ترقی پسند سوچ په سبب دَ یو انقلابی قلمکار په حېث یو ډېر واضح شناخت او مقام لري او لوستونکو ته ئې خپله جانبداری د شعر په لاره په ګوته کړې ده. په غېر جانبدارۍ یقین نهٔ لري. هغهٔ په دې طبقاتی معاشره کښې د خپلې غېر جانبدارۍ ډنډوره غږولو نه ځان ساتلے دے او دَ یو سامراج دښمن، انسان دوست ، امن پسند او ترقی پسند ادیب و شاعر په حېث ئې په ادبی دنیا کښې خپله پېژندګلې ثابت کړې او په هر ځا منلې ده او د ننني عصر د تقاضو په رڼا کښې ئې د یو مزاحمتی شاعر او انقلابی دانشور په طور خپلې ذمه وارۍ پوره کړې دی او چرې ئې ځان خپل ضمیر، اولس او خپلې خاورې ته ملامته کړے نهٔ دے او دَ یو باضمیره، باکرداره او بااصوله لیکوال په حېث ئې خپل شناخت برقرار ساتلے او په ادبی نړۍ کښې ئې خپل نوم او مقام ته د خپل غېرتی قلم په ذریعه افتخار او احترام بخښلے دے. زهٔ ئې د دې څو کرښو په لیکلو اعتراف اوستانئه کوم.

سلیم راز

٢٠١٢/٠٩/١٥

HAMNA PUBLICATIONS

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝


دَ کتاب نوم: سپرلے دے په لمبو کښې

مصنف: محمد زرین پَرېشان

صنف: شاعري

د چاپ کال: ستمبر ۲۰۱۲ء

شمېر: ۱۰۰۰

ټائټل: ایکسپرټ ګرافکس پېښور

کمپوزنګ: حیات روغانے، نصیر محمد لېونے

کره کتنه: قمر صحرائی، اختر جاوید اختر

محمد علی خپلواک، نصیر لیونے

د چاپ ځائے: حمنی پبلیکېشنز چارسده

بیعه: ۲۰۰ روپۍ (سعودي عرب ۵۰ ریالونه)

درابطې اړیکې: عربستان ۰۰۹۶۶۵۰۹۸۴۳۱۸۸

عربستان ۰۰۹۶۶۵۹۵۸۲۳۶۸۸

پاکستان ۰۰۹۲۳۳۱۹۲۹۵۹۷۲

پاکستان ۰۰۹۲۳۰۱۸۱۴۱۳۲۷

دَ موندلو درکونه:

- سرحد بک ډپو جمجائی بازار، بټګرام
- یونیورسټی بک ایجنسی خیبر بازار، پېښور
- ملت پبلیکېشنز چارسده
- عربستان پښتو ادبي تړون، (سعودي عرب)
- قاري نسیم نیوز ایجنټ بټګرام


# تړون

د عدم تشدد د فلسفې علمبردار فخر الافغان خان باچا خان اود هغو ورونو، خویندو، میاندو، زلمیو او د هاغه بې ګناه بې قصوره وطن والو په نوم کوم چې د تړهګرۍ د مودو راسې په دې بې مقصده جنګ کښې قربان شوې ژوبل شوې او څۀ نه څۀ متاثره شوې دی

پرېشانؔ

# د پرېشان سندره اؤ د لمبې رنګ

د پښتونخوا خاوړې د لمبو اغوستن اغوستے دے
موسمونه تؤدېږي کۀ يخېږي......
خاوره د سپرلو رنګونو کښې ځان رانغاړي......
کۀ د پاړبڅ په بام لوګه ؤدرېږي، خو په هر موسم اؤ هر رنګ کښې تړې لمبې خېژي.

د پښتونخوا په تندي د لمبو دغه برخه د ازل د ليک په توګه منلې نۀ شو، ځکه چې د مينې اؤ امن خدائے دغه توان د وګړي زړۀ، سترګو اؤ لاسونو کښې ايښے دے. د لمبو په دغه سپېرۀ موسم خدائے پړ نۀ دے، سړے پړ دے اؤ اوس د پښتونخوا هر اوسېدونکے باېد د کرکې، ترهې اؤ وژنې د دغه لمبو مخنيوے ؤکړي.

تر څو چې د ادب خبره ده، نو مونږ د وګړي په ژوند د مذهب، ادب اؤ سياست د اغېزې نه سترګې پټولې نۀ شو. دغه لړ کښې (د فتوه ګرو سترګې دې ځان ته شي) زۀ دا باور لرم، چې يوازې ادب دا توان لري، چې د مذهب بشپړه معنا راؤباسي اؤ سياست ته لاره نېغه کړي. دغسې ادب د ژوند په هره پېښه اؤ شخړه کښې مذهب اؤ سياست د پاره يؤ غېرمتنازعه دريز دے. دې لړ کښې پښتون ادب باندې لوي پېټے پروت دے اؤ د پښتون ادب د هر ليک په مخ دغه نخښې ځرګندې ښکاري.

ملګرے زرين پرېشان د سعودي عرب په خاوره د پښتو ژبې د اکاډيمۍ ځائے لري، ځکه چې په دې خاوره د ټولو نه د وړومبي





ادبي جوړښت "عربستان پښتو ادبي ټرون" سرمشري د يوې اوږدې مودې راسې هغۀ ؤکړه، چې اوس اوس ئې په ټاکنو کښې دغه سپېځلتيا د بل نامتو ملګري غلام حېدر حېدر په برخه ؤرسېدله اؤ دغه رسېدنه کښې د ښاغلي پرېشان د سپارښتنې نه چا مخ اړولے نۀ شو. د ښاغلي پرېشان په شاعرۍ کښې د رومان رنګونه برخېره دي اؤ وړاندينې دوه شعري ټولګې "ګلونه په شپلونو" اؤ "شور" کښې ئې د رومان رنګونه ځلنده برېښي، نو ورسره ورسره د خاوړې اؤ قام د مينې، د قامي شخړو د پاره د هواري لټون اؤ وياړ هم برجق دے دې ټولګه "سپرلے دے په لمبو کښې" د اوسنو حالاتو اؤ پېښو ژبه ډېره ګويا شوې ده. د پښتو شاعرۍ لوړ دنګ خيالونه، فکري اؤ فهمي پوهه اؤ مترنم سلاست د ښاغلي پرېشان د شعر ځانګړې توکي دي. دغه ځانګړتياوې ښاغلے پرېشان د پښتو ژبې د وړومبي صف شاعرانو کښې ؤدرولے دے.

د بټګرام (هزارې) سيمه چرته چې پښتو د پښتنو شاعرانو، اديبانو د زړۀ په زور شتۀ اؤ سمسوره ده، زۀ په دغه سيمه کښې د ښاغلي پرېشان وجود اؤ شتون په پښتو ژبه د خدائے پېرزو اؤ سود ګڼم زړونه مو په ځائے دي، چې د ښاغلي رحمت شاه سائل، ښاغلي نورالبشرنويد اؤ ښاغلي معظم جان معظم د قامي فکر، د ښاغلي اکرام الله ګران اؤ ښاغلي اقبال شاکر روماني وئېندود به د ملګري زرين پرېشان په شعرونو کښې خپل تسلسل ژوندے مومي.

دعا کؤم، چې د شېرشاه ترخوي، مولوي نجم الغني اؤ محمد علي علي (علي بابا) ادبي پوهه د ملګري زرين پرېشان اؤ د پښتو ژبې د

نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې نوره هم ځلنده شي او مونږ د خپلې ژبې په شتون او پراختيا نور هم وياړمن شو

په توله پښتنه مينه
حيات روغانے
وردګه (اشنغر) پښتونخوا





# هنداره

ګرانو درنو او خوږو لوستونکو

"سپرلے دے په لمبو کښې" زما درئيمه شعري ټولګه ده چې ستا سو د لوست اوستا سو دنظرد جاج منتظره ده د دې نه وړاندې زما دوه شعري ټولګې "ګلونو په شپلونو"او د" شور" په نوم چاپ شوې دی زۀ د ګرانو پښتنو لوستونکو او د خپل ټولو مينه والو مننه کوم چې زما دغه دواړه کتابونه ئې لوستلې او خوښ کړی دی هر ليکوال او شاعر دا خواهش لری چې د هغۀ ليکونه او شاعری اولس ؤلولی او خوښ ئې کړی نو ما هم د پښتو ادب د يو ادنې طالب علم په حېث خپله دغه هڅه تر خپله وسه خپلو مينه والو ته وړاندې کړې ده چې زما دا کتاب لوستونکی ؤلولی او خوښ ئې کړی اوس خلق کتابونه د سيالۍ او صرف په دې فکر چاپ کوی چې ورته د مصنف په حېثيت ؤکتلې شی او د هغۀ نوم هم په مصنفانو په نومونو کښې شمېر شی، ډېر نومه وړی شاعران شته دے چې د هغوی کتابونه اوس اوس چاپ شوې دی او ډېر پکښې لا بې کتابونو هم پاتې دی خو شاعری او ليک د ځلوښتو کالو راسې کوی د شاعر په معاشره کښې يو ځانګړے او اثرناک کردار وی د خپل چاپېر چل نه متاثره شاعر د شعر په ژبه خپل اولس ته خپل تاثرات وړاندې کوی، شاعری صرف د جانان د نوم سره تړلے تورے نۀ دے بلکه شاعر د شعر په اثر ناکه، خوندوره روانه او پسته ژبه بې څۀ د ويرې ترهې بې څۀ د لالچه بغېر څۀ د مصلحته خپل شعوری او فکری ليکونه د اولس د خبر



Pukhto.Net پښتو

ښېګړې د پاره چاپ کوی او خپل اولس ته ئې وړاندې کوی یو حساسه شاعر د خپل چاپېریال نه چې څۀ محسوسه وی هغه د قلم په ژبه د لفظونو په پویون کاغذ ته سپاری

نن پرون چې زمونږ په خاوره او زمونږ په وطن کښې کومه لوبه روانه ده دَ هغې نه سترګې غړول دَ شاعر دَ پاره ډېره ګرانه ده دغه وېنې وېنې لوبې ډېرې میاندې بورې کړې ډېرې خوائیندې کونډې او سرتورې کړې ډېر ماشومان ئې یتیمان کړی دی

او ډېر خلمی ئې بې کوزه کړل دا زمونږ سپرلے سپرلے د چینارونو نښترونو د ګلونو ابشارونو د خوړونو سیندونو وطن ئې لمبه لمبه .لوګے لوګے، دوړې دوړې، لوټې لوټې، کندی کپر، بارود بارود او وینی وینی کړو دغه نۀ هېرونکې لوبه مونږ او زمونږ دې ګل ګل وطن سره بل چا نۀ ده کړې دا هر څۀ مونږ او د دې وطن بچو، خلمیو د دې وطن حاکمانانو سیاسی او مذهبی انا پرستانو او ددې وطن بې سره بې شعوره جرنېلانو او بې شعوره ناخبره وطن والو کړې ده او لاې کوی هم

مونږ ځوک ګرم کړو او چا ته ګوته ؤنیسو او ورته ؤوائیو چې اے ددې وطن ؤسېدونکو دا د خان او د خپلو راتلونکو پېړو سره دغه ظلم او دغه زیاتے ولې کوئې ولې خپل دا سپرلے سپرلے وطن دَ بارودو په لمبو باندې غرغنده کوئې او ولې خپل ژوند خپل دَ راتلونکی نسل ژوند او خپل مذهب دَ پرمختګ دَ لارې نه په شا کوئې او دا وطن دَ ترقۍ او دَ خوشحالۍ دَ لارې نه بې لارې کوئې زما دغه کتاب چې ما ورله نوم دَ موجوده حالاتو په رڼا کښې ایښے دے "سپرلے دے په لمبو کښې"





دګرانو لوستونکو د جاج د نظر وړاندې دے زۀ منم چې ډېر لوستونکی به زما فکر او سوچ سره نۀ وی متفق او ډېر به متفق هم وی خو ما خپل په شعوری او خپل په فکری پوهې خپل په وس فکر او خیال خپل دا حق تر څۀ حده د ادا کؤلو کوښښ کړے دے ما په موجوده کړکیچونو، حالاتو وینې وینې اوښکې ژړلې دې د ما سره به د ډېرو لوستونکو دا خواهش او دا تمنا وی چې په دې سپرلی سپرلی وطن کښې امن ، خوشحالی او ښېرازی راشی. دا جنګونه، فسادونه کینې او نفرتونه د دې وطن نه ختم کړے شی او دلته امن امن، مینه مینه او مسلمانی راشی او مونږ د نړۍ د نورو قامونو سره په پرمختګتیا کښې د سیالۍ جوګه شو مونږ هم سپوږمۍ ته ؤخېژو او کۀ سپوږمۍ ته ؤنۀ ختۀ شو نو کم از کم په دې زمکه دَ سپوږمۍ رڼاګانې او د سپرلی ګلونه په یو بل پېرزیو کړو د دې وطن په وران کارۍ او بربادۍ کښې چې کوم خلق ککړ دی هغه هم د دغه وطن بچی دی هغه زمونږ خپل وروڼه او زمونږ د وینی خلق دے زۀ ورته ښېرې نۀ شم کؤلې خو دا دعا به ورته کؤم چې خدائے پاک دې دغه ورانکارو او بې لارو ته ښغه او ښکه لار ؤښائې زما دا کتاب چې کومو ملګرو د چاپ مرحلې ته راسؤلے دے زۀ د هغو ډېره مننه او ستائینه کؤم چې هغوی د ما سره او د پښتو ادب سره خپله پښتنه مینه په عملی توګه ؤښائیله د ټولو نه اول د بابو عابد هوتل بټه ګرام ډېر مشکور یم چې هغۀ قدم په قدم ؤږه په ؤږه په دې ګران کار کښې مندېه وهلې ده بابو عابد یو دروند پښتنون په پښتو مئین او د ډېر شعور انسان دے د بابو عابد په حقله به دومره ؤوایم چې د هغۀ مرستې او محبتونه ما او د پښتو مئینانو سره اوږه په اوږه روان دی



Pukhto.Net

ددې نه پس چې چا ددې کتاب په چاپ کولو کښې مرسته او مينه راکړې ده هغه سعيدالله سعيد کوزه بانډه بټه ګرام دے دغه پښتو مئين پښتنون ډېر دروند مينه ناک او د يارانو يار شخصيت دے اسلم بهائي جان د بجنو پکلې هم ددې کتاب په چاپ کولو کښې ما سره مرستيال دے. ورپسې د جنګريز خان شګې بټه ګرام هم مننه کوم چې د هغهٔ مرسته او مينه هم ما سره په دے کتاب کښې شامل ده.د شهاب الدين شهاب بټه ګرام او د عبدالرؤف صيب بټه ګرام هم مننه کوم چې هغو هم ما سره په دے ګران کار کښې مرستيال دی. د حيات روغاني چې د "عربستان پښتو ادبي ټرون" مرستيال ستر مشر دے هم ممنون يم چې هغهٔ د دې کتاب کمپوزنګ په ډېر ګران او ناوزګار وخت کښې کړے دے او ورسره ورسره د نصير محمد لېونے بازارګي بټه ګرام هم ډېره مننه کوم چې هغهٔ د کتاب په کمپوزنګ نظرثاني کړې ده.

د محمد علي خپلواک،اختر جاوېد اوقمر صحرائي هم مننه کوم چې دوی د دې کتاب په چاپ کولو کښې ډېره مرسته کړې ده. او د دروند پښتون، شاعر، ليکوال اباسين يوسفزی هم ډېره ډېره مننه کوم چې هغوی د دې کتاب د چاپ ګرانې مرحلې آسانې کړې.





# عربستان پښتو ادبي ټرون
# د تاريخ په آئينه کښې

د عربستان په صحراګانو کښې چرته چې د ډېرو هېوادونو دَ عربي نه علاوه نورې ژبې وئيلې کيږي په هغې کښې يو زمونږ مورنۍ ژبه پښتو ده چرته چې پښتون وی نو هلته به پښتو هم وئيلے کيږي او پښتو مينه وال او ليکوال به هم هلته موجودوی ۱۹۹۴ء کښې چې کله زما ماشومان د جدې ښار نه په پخهٔ باندې خپل وطن ته ستون شول نو زهٔ هم د جدې ښار نه رياض ته لاړم چرته چې زهٔ د ۱۹۷۹ءنه راسې مېشته وُم په جده کښې د پښتو ادب څهٔ باقاعده تنظيم نهٔ وُ خو د اے،اين،پی په غونډو او محفلونو کښې به ما په باقاعدګۍ سره ګډون کؤو څهٔ لږه ډېره به د شعر و شاعرۍ تنده ما په دې غونډو کښې ماتوله کله چې زهٔ رياض ښار ته لاړم نو دلته کښې هم د پښتو ادب څهٔ خاص فعاله تنظيم نهٔوُخو د پښتو ادبي ټولنې په نوم يوه ادبي هڅه ضرور موجود وه چې د هغې سر خېل فياض تورخېلی وو فياض تورخېلي چې په رياض کښې د پښتو ادب کوم خدمت کړے دے هغه د چا نه پټ نهٔ دے او په هزاره کښې چې کوم پښتنی خدمتونه پښتو ادب سره کړی دی او کوی هميشه به د هزارې په ادب کښې ياد ساتلے شي. او د پښتو ادبي ټولنې رياض په دغه هلو ځلو کښې چې د دهٔ سره نور کوم ملګری وو په هغې کښې د سر نومونه څهٔ په دې ډول دی خالد يوسفزئی،هاشم خان لا لا،عبدالصمد عامر، سعېدالرحمان استاد جی، اخون ذاده عريزالرحمان عزيز،

اظهارالحق اظهار، عبدالرحیم کاکی، علی زر خان فکری، جاوید
خان لالا، اوجمشید خان دوی به کله نه کله په یوې دیرې کښې
راغونډېدل او یو بل ته به ئې خپل خپل تازه کلامونه اورؤل خو څۀ
تنظیم سازی نۀ وه او نه مشاعرې او تنقیدی نششتونه کېدل زۀ خپلې
دېره کښې ناست وم چې فیاض تورخېلی، خالد یوسفزئی، عزیز
الرحمان عزیز، عبدالصمد عامر او هاشم خان لالا د خپلو نورو
ملګرو سره ما څخه راغلل او ما ته ئې د ټولنې د صدارت خواست
وکړو ما هغو ته ؤوئیل چې زۀ دومره سړے نۀیم چې د ادبی تنظیم د
ستر مشر چوکۍ ترلاسه کړم او بل زۀ په دې ښار کښې نوے هم یم زۀ
ستا سو د کاروان ملګرے یم خو د یو عام غړی په حېث هغه وخت
خو هغوی لاړل خو بله ورځ بیا راغلل او د ډېر بحث نه پس زۀ د
صدارت په چوکۍ قبلؤلو په دې شرط قائل شوم چې ددې تنظیم
سرپرست اعلی به ښاغلے ډاکټر خورشید عالم وی. دې نه پس دغه
ملګری ډاکټر خورشید عالم پسې لاړل او هغۀ ته ئې زما دغه خبره
وکړله، ډاکټر صیب چې یو ښۀ پوهه او یو پښتون قام پرست شخصیت
دے زما دغه شرط ئې ؤمنلو او مونږ د تنظیم نوې اډانه سره د نوی
نوم "عربستان پښتو ادبی ټرون" وکړه. وروستو په دغه تنظیم کښې
عمر زاده افغان زما په بلنې دې تنظیم کښې شریک شوددې نه
وروستو پکښې ښاغلے نعیم راهی هم شامل شو د دې نه علاوه چې
کوم نور شاعران او لیکوال په دې کښې شامل شول په هغوی کښې
نصرالله ناصر باجوړے چې اوس هم د "عربستان پښتو ادبی ټرون"
ستر سیکرتر دے، ډاکټر عرفان، ډاکټر افتخار، سید نبی عاجز،
محمد علی خپلواک، شهنشاه شاهین، وردک صیب، حسین محمد





عادل، علی حېدر کوثر، عمر حیات صمیم (سودائی)، دیار خان
ارغونے، بهرام وډیګرام، عالمګیر شاهین، فضل الرحمان زاهد،
مجاهد سېلاب، معظم صافی، طارق ناښاد، عبدالقادر صیاد،
امیر خان موسی خېل، مکمل صیب، پیر قائل، جلال حقیقت،
محمد حضرت حضرت، کېمور، اختر منیر شاهین، تواب تورابی،
خورشید عالم صابر، خاورین اوعبدالله صادق. په دغه وخت کښې
یو سو کسان داسې وو چې د هغوی په ډېرو هڅو باندې دا تنظیم
چلېدۀ لکه فیاض تورخېلی، عمر زاده افغان، عزیزالرحمان عزیز،
سعید استاد، هاشم خان لالا او صمد عامر. څۀ موده پس "عربستان
پښتو ادبی ټرون" یو مشترک کتاب چاپ کړو چې نوم ورله د فیاض
تورخېلی منتخب شوې نوم "د هېواد نه لرې" کېښودے شو او زما
کتاب "ګلونه په شپلونو" سره یو ځائے چاپ کړے شو، ددې نه پس
د "تور غر" میاشتنۍ مجله د سعودی عرب دملګروخوانه دصحرائی
په نګرانۍ کښې چاپ کړې شوه بیا یو وخت داسې هم راغے چې
ټرون سره دَ ډېرو لیکوالو اختلاف پېدا شو، اختلاف لرونکو لیکوالو
دا رایه لرله چې عربستان ادبی ټرون دَ سیوری لاندې خپلو هلو ځلو
ته نۀ وو تیار نو ما او زما ملګرو په دې غونډه وکړه چې مونږ خو دَ
پښتو ادب دَ پاره کار کؤل غواړو نو خبر دے دَ دې ملګرو په خوښه
د یو بل نوی تنظیم په نوم به خپلې څېړنې جاری ؤساتو او یو مشترکه
غونډه د هغو او زمونږ په مېنځ کښې ؤشوه ټرون مونږ معطل کړو او د
ملګری اخون زاده عزیزالرحمان عزیز په منتخب کړے شوې نوم
"پښتو ادبی غورزنګ" په نوم یوه نوې اډانه جوړه کړے شوه چې د
هغې صدر زۀ او ستر سیکرتر ئې عبدالله صادق د افغانستان

وټاکلے شو دغه تنظیم د څۀ ملګرو دسازش له کبله صرف شپږ میاشتې وچلېدۀ او د "پښتو ادبی غورزنګ" نه زۀ او زما ملګری راؤتو او "عربستان پښتوادبی تړون" مو بیا بحال کړو په تړون کښې چې د کومو د پورتنو لیکلی شوی نومونو کښې ځنی لیکوال په تړون کښې شامل نۀ وو لکه صابر حجازی او سائر خان کلي وال وغیره نو هغه کسان او ورسره د تړون مرور کسان په "غورزنګ" کښې پاتې شو،نن سبا چې په "عربستان پښتو ادبی تړون" کښې کوم لیکوال او مینه وال موجود دی هغه دا دی، غلام حیدر حیدر صدر، حیات روغانے مرستیال صدر، نصرالله باجوړے ستر سیکرتر دے دۀ تر اوسه پورې د عربستان ادبی تړون ډېر خدمت کړے دے ،د دې نۀ علاوه جاوید خان لالا، سعیدالرحمان سعید استاد، عبدالصمدعامر، عالمګیر شاهین، عبدالرحیم کاکی، سدیر ساده، بهرام وديګرام، بشیر خان، حیدر ګل اباخیل، تاج محمد احمد، شیر شاه یوسفزئې، شیر بهادر افتاب، شیر محمد زورمل، معظم صافی، مجاهد سېلاب، حسام جان بهادر، قیصر مانېروال، شاهین افریدے، جاوید نثار، مکمل شاه میاخېل، نوربادشاه حساس، عظیم خان روغانے، وحیدالله شاهین، عارف ناښاد، اکبر شاه اکبر، ګل شرین خان لالا، قیس محمد سوختی، حضرت الله قائد، نور احمد شاه کېمور، لیاقت زمان مظلوم، اختر ولی ثنان او سید نبی عاجز دَ دې نۀ علاوه رحمان علی شوګیر او د خیام یوسفزئې مرستې هم تړون سره شاملې دی، په عربستان کښې چې کوم نور تنظیمونه د تړون په اساس جوړ شوې دی په هغې کښې پښتو ادبی غورزنګ، پښتو ادبی رڼا، اجمل خټک ادبی مشال، پام (پښتونخوا ادبی





ملګری)،پښتو ادبی سنګراو پښتو ادبی کاروان، دغې کښې څۀ تنظیمونه نن پرون فعال دی او څۀ دَ څۀ وجې نۀ غېر فعاله، خو دغه ټولو تنظیمونو عربستان کښې دَ پښتو ادب خدمت ښۀ په خلاص مټ کړے دے او اوس ئې هم کوی،په عربستان کښې چې کوم خلق شاعران نۀ دی خو پښتو ادب سره مرستیال پاتې شوی دی په هغې کښې څو نومونه دا دی عابد لوهار(خدا ے بخښلے)،جنګریز خان، افضل خان پښتون یار،اسلم بهائی جان،بابو عابد، شهاب الدین شهاب اوپیر دلبر شاه.

اودی سره سره د اے این پی د ریاض ځانګې د کومو ملګرو مرستې چې ادب سره شوی دی په هغې کښې صدر ګل زمین خان،نائب صدر ظهور احمد خان، یونس حبیب خان،جمیل خان،رستم خان، سرفروش خان، شمس الرحمان بټه ګرامے ،بابر شاه،حضرت حسین، عالمګیر شاهین، بهرام وديګرام، امجد خان، نصیر خان، نصیب خان، محمد واحد ټیکېدار، ګوهر خان، ډاکټر مزمل خان، ډاکټر ظهور، انعام خان، اکرام الله پښتون یار، عطاءالرحمان منزرے، دلفروز خان، محمد زرین دېشانی، پیر فرهاد شاه او عبدالرؤف صیب د یادؤلو جوګه دی

په عربستان کښې چې تر اوسه پورې څومره کتابونه چاپ شوی دی په هغې کښې،د ځنو کتابونو نومونه زۀ د لوستونکو د نظر د لاندې تیرؤل غواړم منم چې دغه ټول کتابونه به معیاری نۀ وی خو دَ پښتو ژبې سره دَ مینې اظهار خو شوے دے کنه.

هېوادنه لرې(نظم)-دسعودی عربستان د لیکوالو مشترکه کتاب)

د شور تصویر-د عمرزاده افغان شعری ټولګه

د منزل په لور-د نعیم راهی شعری ټولګه

باور-د حیات روغانی شعری ټولګه

حیاتونه، پښتون، نینزک-دحیات روغانی نثری ټولګې

لوظ-د سدهیر ساده شعری ټولګه

ملی غږ-د جمال شاه یوسفزئی شعری ټولګه

د خوانی تنده، په ارمان د پسرلی-د عبدالقادر صیاد شعری ټولګې

ماله زما خاوره ګلاب راکوی - درحمان علی شعری ټولګه

شمعې په تیرو کښې، سردرې-د امیر موسی خېل شعری ټولګې

په سپوږمۍ ګلونه، د زړو انځور-د ثواب ترابی شعری ټولګې

کانې، سفرنامه، نالیدلې لار-د ثواب ترابی د هائیکو او د نثر ټولګې

کنډوونه-د معظم صافی شعری ټولګه

کلی ته به کله خو-دعطا محمدوردک شعری ټوګه

ګلونه په شپلونو، شور-زماشعری ټولګې، چې ورسره داباسین پښتواکېډمۍ مرسته هم شامله ده

سپرلے دے په لمبو کښې- زما دغه شعری ټولګه چې ورسره د اباسین پښتو اکېډمۍ مرسته هم شامل ده. ددې نه علاوه نور هم داسې کتابونه چاپ شوی دی چې دې وخت کښې د ما نه ئې نومونه هېر دی.

زۀ د هزارې سیمې بټه ګرام سره تعلق لرم نو غواړم چې د هزارې په ادب په عمومی او د اباسین بټه ګرام سیمی په خصوصی ډول په پښتو ادب ړنا واچوم چې دا شان زۀ خپل دا حق ادا کړے شم چې هر چا چې د پښتو د ادب څۀ نه څۀ خدمت کړے دے هغه زۀ لوستونکو





ته او راتلونکی نسل ته ورسوم. په دې سیمه کښې چې د پښتو ادب د پاره کومې هلې ځلې او خېړنې شوې دی هغه د چا نه کمې او پټې نۀ دی دلته کښې ښۀ ښۀ لیکوال او شاعران شته او خدائے دې لری په دیکښې قمر صحرائی یو داسې نوم دے چې د هزارې په حواله او د اباسین بټه ګرام په حواله پېژندلے شوے او منلے شخصیت دے دۀ د پښتو ژبې په دې سیمه کښې په نشت حالات کښې دومره خدمت کړے دے چې تر څو په دے سیمه کښې د پښتو ادب ذکر کیږی نو دۀ نوم به پکښې ضروریادیږی ددۀنه علاوه اسماعیل ګوهرهم دخدمت په حقله به همیشه یاد پاتې کیږی دې سره نور هم ښۀ ښۀ شاعران دی چې خدمات ئې هم شته او په شاعرۍ کښې ئې زور هم، لکه میر عبدالله سواتی (خدائے بخښلے)، حسین محمد عادل، بختیار انجم، محمد علی خپلواک، اختر جاوید اختر، کفایت الله حېران، پیر نادر شاه، ګلفام صابر، بخت نواز وصال، بخت زمان قائل، بنارس خان سیال، جمروز سرحدی، علی زر خان فکری، اختر حیات قمر، نصیر محمد خان لېونے، محمد اقبال خان اقبال، عبدالصمد عامر، ظریف خان، عثمان شاه ملا جان، علی اکبر ایډوکیټ، پروفیسر خلیل، بهرام سمندر، عبدالرحمان شاهین، ګل بهادر تنها، تاج محمد ساقی، یاسین افشان، حاکم سید حاکم، حیات خان حیات او نور ډیر داسې بې شمیره نومونه دی چې د پښتو ادب د هزارې ګلونه ورته وئیلې شو. په هزاره کښې عمومی او په بټه ګرام کښې په خصوصی توګه د پښتو ادب د ادبی تاریخ د چا نه پټ نۀ دے په ١٩٨٥، کښې زما په زړۀ کښې د یو ادبی ټولنې جوړولو خیال راغے ځکه چې هاغه وخت په دې سیمه کښې شاعری صرف د

اولسي شاعرئ په نوم اورېدے او پېژندے شوه او ادبي شاعري بيخي په نشت حساب وه،ما د قمر صحرائي سره په دے حواله يوه غونډه ؤکړله او بيا په دې لړ کښې نورو ملګرو سره خبرې اترې ؤشوې او د" پښتو ادبي څانګه" په نوم مونږ يو ادبي تنظيم ساز کړو چې د هغې صدر زۀ او ستر سيکرټر ئې قمر صحرائي شو په دې هلو ځلو کښې مونږ سره نور ملګري هم شامل وو لکه فقير محمد فقير ،دوست محمد مالکي،دوست محمد ناشاد ،اختر جاويداختر، ملک جان ماليار، مصطفى استاد (خدائے بخښلے)، تنها يوسفزئي، جاويد علي شاه خيالي، سرفراز دېشاني، بشير صياد ، عبدالخالق صابر، محمد شعيب عباسي، اسرين ګل، بهادر خان غريب (خدائے بخښلے) عالم زيب خان، آدم خان، باز محمد عادل، عبدالصمد عامر، عطاءالرحمان عطاء، علي زر خان فکري، عبدالله مسافر(خدائے بخښلے)، اسلم خان مغموم، سلطان دراس، بشير معصوم، اختر حيات قمر، حق نواز تور خېل، شهباز خان عابد ، فلک ناز ناز، لياقت علي خان محزون، نياز محمد نياز، بشير عاجز او صدرالزمان جل، مونږ سره په دې کاروان کښې ملګري پاتې شوي دي. په۱۹۹۷ء کښې ما او زما ملګرو زما په تجويز دغه تنظيم نه د اکېډمۍ جوړولو تابيا ؤکړه او دغه تنظيم پښتو ادبي څانګه د"اباسين پښتو اکېډمي هزاره" په نوم بدل کړے شو چې اوس هم "اباسين پښتو اکېډمي" قائم او دائم ده،دې سره سره په هزاره کښې يوه بله اکېډمي دَ "پښتو اکېډمي هزاره" په نوم موجود ده.

Pukhto.Net





اباسين پښتواکېډمي هزاره د هاغه وخت نه تر اوسه پورې د پښتو ژبې او ادب ودې د پاره کارکوي د دې اکېډمي د سيورې لاندې تر اوسه پورې ډېر کتابونه چاپ شوې دي لکه چې!

دَ تندهيار چپې، (تذکره)
ګلونه په شپلونو،(زماشعري ټولګه)چې ورسره د عربستان پښتو ادبي ترون مرسته هم شامله ده.
دَ چېل لمن ، (تذکره)
پرخه په ګلاب سحر ،(دحسين محمدعادل شعري ټولګه
دَتکل په آئينه کښې،(دَصحرائي دَتکلو ټولګه
څريکې څريکې پرهرونه،(دمحمد علي خپواک شعري ټولګه)
شور ،(زما دوئيمه شعري ټولګه)چې ورسره د عربستان پښتو ادبي ترون مرسته هم شامله ده
جام محبت،(دکلاسيکي شاعرميرعبدالله ديوان)
لړزان،(دصحرائي شعري ټولګه)
نظم زار ،(تذکره)

دې سره سره دپښتو اکېډمي هزاره د سيورې لاندې هم ډېر کتابونه چاپ شوي دي لکه چې!
ژوند قيصې قيصې (د افسانو تذکره)
مُسکا ،(د اسماعيل ګوهر د هائيکو ټولګه)
ما به څرک اوري،(د ګوهر شعري ټولګه)
رېښتني جذبې،(داقبال خان شعري ټولګه)
سوې اميدونه،(دعثمان شاه ملاجان شعري ټولګه)

Pukhto.Net

کوکې .(د اقبال خان د کوکو ټولګه)
دَمینې کور .(دَعلي زرخان دافسانو مجموعه)
مزل او منزلونه.(د ظریف خان ناول)
دې سره دَ "هزارې ګلونه" دا کتاب آرټ اینډ کلچرل کونسل مانسهرې چاپ کړے دے
دې نه علاوه څۀ متفرق کتابونه دی چې په هغې کښې!
سرې اوښکې.(دقدیم افغاني شعري ټولګه)
دخاپېرو څوکې .(دالائي ادبي ملګروتذکره)
دالائي نظارې.(دسنګي ترقیاتي فاونډیشن تذکره)
رموز عشق.(د غلام حسن خان شعري ټولګه)
دیوان قاضي ګل
تحفة الافغان.(دچیلاسي باباشعري ټولګه)

ما په دې خپلې تذکرې هنداره کښې د هغه ټولو پښتو مینو او پښتو لیکوالو نومونه په ګوته کړې دي چا چې په عربستان او هزاره کښې د پښتو ژبې خدمتونه کړې دي او یا په څۀ نۀ څۀ اساس پښتو ادب سره نږدې پاتې شوې دي.زۀ منم چې ډیر لوستونکي به دا وائي چې پرېشان د کتاب نۀ څۀ د نومونو او د تبصرې کتاب جوړ کړو خو زما په خیال ما خپل ادبي فرض پوره کړے دے زما ژبې پښتو سره په دغې سیمو کښې چې چا مینه او په پښتو ادب پېرزونې کړې دي او پښتو ژبه ئې په دې سیمو کښې ژوندۍ ساتلې ده نو ما په خپل کتاب کښې د ټول عمر د پاره دهغه خلقو د ژوندي ساتلو هڅه کړې ده او دا هر څۀ بغېر څۀ د ریا . بغېر څۀ د لالچه. بغېرڅۀد مصلحته او





بغېر څۀ د چاپلوسي. نه مې راتلونکو نسلونو ته سرګند کړې دي په دې کښې به ډېرو سره زما یا به د ډېرو ما سره تعلق نښۀ نۀ وی خو ما دې ته نۀ دی کتلی او د پښتو ژبې د یو رښتوني لیکوال غوندې مې دا فرض تر څۀ حده پورې پوره کړے دے ځکه چې دغې خلقو خپلې ژبې .خپل ثقافت .خپل دود دستور. خپل وطن او قام سره بې کچه مینه کړې ده نو ما ورسره هم د خپلې مینې اظهار وکړو

ګرانولوستونکو"سپرلےدےپه لمبوکښې"ستا سو دجاج وړاندې دے او ما د پاره د ټولو نه لوې جاج دَ دې کتاب په حواله زماد لوستونکودےهیله لرم چې زما کمی او کمزورۍ به چې ما نه په دې کتاب کښې شوی دی زمالوستونکي به ما ته په ګوته کړی ځکه چې زۀ هم انسان یم اود پښتو ژبې یو ادنی طالب علم. د ګرانو لوستونکو درنې مشورې او تنقیدي جائزې به مادپاره زمادلارې مشالونه وی او ما به خپل مرام ته ورسوی په دې قطعې اجازت غواړم دخدائے په امان

ما ستړګوړ، ما ژړوړ کړې ربه!
زما لیکونو له وجدان ورکړې!
چې توروپه توراوسپین په سپین ؤلیکم
زما قلم له دومره توان ورکړې!

په نېکه هیله او په ډېر درناوی
زرین پرېشانؔ
٢٠٨٢٠١٢



Pukhto.Net

# قامي دُعا

زمـــا دُعـــا دَ آسـمانونو پـــه مـــخ
دَ لامکـــان دَ درَ فريـــاد کـــړي ربـــه

علم، شعور، دانش، ســـخن او مينـــه
زمـــونږ منـــزل زمـــونږ مـــراد کـــړي ربـــه

مـــونږ لـــه اختيـــار راکـــړي پـــه خپلـــه خـــاوره
زمـــونږ هېـــواد زمـــونږ هېـــواد کـــړي ربـــه

زمـــونږ پـــه خـــاوره مـــونږ لـــه امـــن راکـــړي
مـــونږ دَ جنګونـــو نـــه آزاد کـــړي ربـــه

زمـــونږ دا لـــوټې لـــوټې شـــوے وطـــن
ګلـــي ښـــارونه بيـــا آبـــاد کـــړي ربـــه

پـــه دې بـــارود بـــارود بدبويـــه مـــاحول
راخپـــور دَ ســـرو ګلـــونـــو بـــاد کـــړي ربـــه





زمـــونږه نـــن زمـــونږ راتلـــونکے ســـبا
خـــلاص مـــو دَ جبـــر استبـــداد کـــړي ربـــه

دَ دې وطـــن ســـړي خـــوارۀ انـــسانان
دَ آدم زادو آدم زاد کـــــــړي ربـــــــه

خپلـــو نفـــسونو خواهـــشونو ســـره
مـــونږه پـــه جنـــګ مـــونږ پـــه جهـــاد کـــړي ربـــه

دَ پـــښتنو ميـــاندو يـــو يـــو بچـــے مـــو
دَ زرو زرو پـــه تعـــداد کـــړي ربـــه

مـــونږ دَ پـــردو پـــه آســـره مـــهٔ پرېږدي
خپلـــه آســـره زمـــونږ بنيـــاد کـــړي ربـــه

پـــه وينـــو ســـره دا تـــوده شـــوې لوبـــه
خـــتم دا شـــر او دا فـــساد کـــړي ربـــه

زمـــونږ دَ زړونـــو نـــه يـــو بـــل دَ پـــاره
لـــرې کينـــه نفـــرت عنـــاد کـــړي ربـــه

مـــات کـــړي دَ شـــک او دَ وهمونـــو بُتـــان
مـــونږ دَ يـــو بـــل دَ اعتمـــاد کـــړي ربـــه

زمونږ دَ زړهٔ زمونږ دَ خولې خبره
یوه کړې ورک ترې نه تضاد کړې ربه

په هر وطن کښې مزدوری پسې ورک
دا خلق خپل په وطن ښاد کړې ربه

مونږ نه دَ چا سره سیالی ؤنهٔ شوه
دَ سیالو سیال زمونږ اولاد کړې ربه

چې مدام مونږه نې ستائینی کړو
مونږ دَ هغو په شوندو داد کړې ربه

دغه چې مونږ ترې خیراتونه اخلو
مونږ دَدې خلقو دا امداد کړې ربه

دا چې نن مونږ دَ بدو بد یادېږو
داسې دَ ښۀ نه ښهٔ یاد کړې ربه

امن پسند او ژوند پرست مسیحا
دَ دې وطن هر یو جلاد کړې ربه

زمونږه خیال زمونږه سوچ او فکر
نه دَ فرعون نه دې شداد کړې ربه





زمونږ جذبې او حوصلې ولولې
تهٔ دَ طارق ابنِ زیاد کړې ربه

مونږ کښې دَ عدم تشدد فلسفه
عام کړې په ټولې نړۍ زیاد کړې ربه

دَ دې وطن چې بربادی وی پکښې
هاغه فکرونه تهٔ برباد کړې ربه

## زما قلم

ما سترګور، ما ژیړور کړې ربه!
زما لیکونو له وجدان ورکړې!

چې تور په تور او سپین په سپین ؤلیکم
زما قلم له دومره توان ورکړې!



Pukhto.Net
پښتو

# سپرلے دے په لمبو کښې

ګلونه پانې پانې شول، سپرلے دے په لمبو کښې
هر ګل په اور کښې سوزي، هر ازغے دے په لمبو کښې

پتنګ چې شو ستي ستي په شمع، دا ئې ووې
اے عشقه! څو سکون، څو قلارے دے په لمبو کښې

هر څو دَ وخت نمروده! کۀ پرې تا اورونه بل کړل
بیا هم دَ وخت خلیل ګوره ژوندے دے په لمبو کښې

هر څو کۀ رقیبان را نه راتاؤ کړي دَ نفرت اور
لاتوان دَ محبت زما زلمے دے په لمبو کښې

سرې شونډې، تورې سترګې، محبوبه ئې په مرګ ژاړي
سلګې سلګې جانان ورته موسکے دے په لمبو کښې

زمونږ دَ دې سپرلي وطن په ګل ګل منظرونو
اورونه را وریږي، هر سرے دے په لمبو کښې





کتاب کۀ سیپاره ده، بیلورے دے کۀ چینډرو ده
لمبه لمبه پرونے هم پټکے دے په لمبو کښې

یوازې دَ شرخوښو په شر زۀ اوختے نۀ یم
زرینه! دَ پښتون بچے بچے دے په لمبو کښې

# غدار مې کړه!

چې دَ اولس کوې خدمت، هغه عظمت ته رسي
دَ خلقو زړونو کښې چې ځائے شي، محبت ته رسي

چې لګوي په قام پرست دَ غدارۍ مهرونه
دَ باچاخان په ننګ قسم دے، بغاوت ته رسي

Pukhto Net پښتو

وخت کۀ هر څومره حالات را ته تراخۀ کړي
ستا خوارۀ خوارۀ يادونه ئې خوارۀ کړي

ستا دَ مړو سترګو په دې انداز خو مړ يم
چې په مړۀ مړۀ کاتۀ خلق په ځان مړۀ کړي

دَ حرص اؤ دَ هوَس ائينې مونږ ته
ځنې ځنې قدآور څومره وارۀ کړي

جوړې باز مې دَ کارغانو سهل کښې والوت
چې خويونه عادتونه دَ کارغۀ کړي

چې ځان جوړ کړي، بيا مې ځان ته ائينه کړي
ائينه خوله، اوبۀ اوبۀ کړي

په پردي وطن مارۀ هم وږي ښکاري
خدائے دې خپل وږي په خپل وطن مارۀ کړي

لکه ګل چې شي زرينه! پانې پانې
لېونی چې په سرخی انتګي سرۀ کړي





څۀ به درته ؤوايم، چې هغه يم اؤ دا يمه
دغه يمه ياره! چې څۀ يمه، هغه ستا يمه

نيشت ؤمه چې نۀ ؤمه، چې شتۀ شومه، نو څۀ شومه؟
ځان ته يم حېران، چې زۀ دَ چا ؤمه؟ دَ چا يمه؟

مينه دَ ادل اؤ دَ بدل سوداګري نۀ ده
تۀ په ما منښن نۀې اؤ کۀ نۀ، خو زۀ په تا يمه

تۀ ئې دَ کثرت واعظه! زۀ يم دَ وحدت قائل
تۀ منښن په ډېرو حورو، زۀ په يوۀ اشنا يمه

دې نه به لا زيات دَ خپلې مينې ثبوت څۀ درکړم؟
سترګو کښې مې اوښکې دي اؤ تا ته په خندا يمه

تۀ دَ ځوانيمرګ ښېرې کوه، خو چې مرم، راشه! بيا
غوږ را ته نږدې کړه، زۀ به تا ته په دعا يمه

دَ پښتنو وطن کښې پېغلې جونه
داسې سرتور سرونه نۀ گرځوي
سرې شونډې تورې سترگې شنۀ خالونه
په انتگو رنگونه نۀ گرځوي
دلته ښائېست دَ نمائش په غرض
په خپور اوربل گلونه نۀ گرځوي
زمونږ دَ کليو پښتنې ملالې
داسې بربنډ مخونه نۀ گرځوي

خان دَ خوانۍ په جذبو ؤ نۀ سېزې
خپل ښائېستونه درته اور نۀ شي

دلته دَ حسن دَ سنگار تصوّر
شته خو دَ کور په انگنونو کښې دے
دلته کښې خراش او تراش دَ سر اؤ څنې
دَ روایاتو په قدرونو کښې دے
دلته په پېغلو کښې اظهار اؤ اقرار
شته، خو په شونډو نۀ په زړونو کښې دے
دلته دَ زړونو تړون زړونو سره
دَ رويّو په عظمتونو کښې دے

دَ خپل رواج درنه دا سپين رنگونه
دَ خواهشونو په رنگ تور نۀ شي





دَ بټه گرام، تورغر، دَ سوات اؤ بونېر
دير، باجوړ، دَ اشنغر پښتانۀ
دَ ملاکنډ، دَ صوابۍ اؤ مردان
ستا دَ نوښار اؤ پېښوړ پښتانۀ
ستا دَ ډېرو، وزيرستان اؤ بنو
ستا دَ مومند، کُرمې، خېبر پښتانۀ
ستا دَ بولان، جلال اباد اؤ کابل
ستا دَ پکتيا اؤ علينگر پښتانۀ

غواړې چې ستا دَ زرين شال پړونې
دا پښتانۀ رنگونه نور نۀ شي

Pukhto.Net
پښتو

ستا دَ دروغو په لوظونو باندې نهٔ تېرېږم
نور دې اشنا! په سوګندونو باندې نهٔ تېرېږم

دَ بوډۍ تال را ته دَ خولې په قصه مهٔ جوړوه!
ماشوم خو نهٔ يم، په رنګونو باندې نهٔ تېرېږم

کهٔ راځې، نن راشه! سبا ته لويه شپه ده پرته
دَ انتظار په قيامتونو باندې نهٔ تېرېږم

ستا دَ جفا سيلۍ په دې کوڅو کښې تل الوځي
وران دې شي، نور په زړو پلونو باندې نهٔ تېرېږم

زړهٔ کهٔ اشنا! دې جنګوي، نو جنګوه راسره
نور دې دَ سترګو په جنګونو باندې نهٔ تېرېږم

ؤرم ښارنيه! کليوال به تري جامې ؤکندې
ستا دَ جومات په قالينونو باندې نهٔ تېرېږم





عشقه لېونيه لېونے دې کړم
ؤدې سوم په اور لوګے دې کړم

مړ دې کړم چې مړهٔ مړهٔ دې راؤکتل
رو رو چې موسکے شوې راژوندے دې کړم

تهٔ چې دَ خندا نه په شا واؤختيدې
شين دې په خندا کړمه سپرلے دې کړم

تپه توره شپه ؤمه تنها تنها
عشقه څهٔ حسين مازيګرے دې کړم

څو چې نزدې کېږم خپلؤمه دې
دومره رانه لرې شوې پردے دې کړم

ما دې خال ته ستورے دَ سبا ؤوې
تکنه غرمه شوې تکنے دې کړم

مينې بې لهٔ تا زرين نيمګرے ؤم
ايله اوس سرے شومه سرے دې کړم



Pukhto.Net

نۀ یم حنفي، او نۀ شافعي، نۀ مالکي، احمدي
زۀ دَ مذهب په کړلېچونو باندې نۀ تېرۀځم

زۀ چې څۀ اخلم، دَ ښائېست رنګ په هغې کښې ګورم
په ډکو ډکو بازارونو باندې نۀ تېرۀځم

دَ عمل تَله کښې تَلمه، دَ انسان حدونه
دَ چا په ږیرو په مونځونو باندې نۀ تېرۀځم

مۀ چل کوه په مخ زرین ته په خندا دامونه
دَ اننګو په ؤلونو باندې نۀ تېرۀځم





# ښائېستونه په لمبو کښې

(دَ ترهګرۍ هغه سپېرو ورځو کښې لیکلے شوے. کله چې دَ سوات دَ ښکلاګانو سیمه کښې دَ کرکې بۀ دَ مینې اؤ ښائېست ښاپېرو ته کده په سر کړې وه)

په سپرلي خېژه منظرونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائېستونو لمبې پورې شولې

دَ پسرلو خاوندان خپله خپل سپرلي سوزوي
چرته ګلاب، چرته غانټول چرته رېدي سوزوي
پخپله خپل کلي کورونه، خپل بچي سوزوي

په ګل رنګونو، ګل مخونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائېستونو لمبې پورې شولې

اوس په کلام کښې ماشومان ټالونه نۀ اچوي
دَ سیند په غاړه، په یؤ بل لاسونه نۀ اچوي
غبرګې چپې دَ سیند، په زړۀ چکونه نۀ اچوي

دَ ملاکنډ په ابشارونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائېستونو لمبې پورې شولې

Pukhto.Net پښتو

اوس دَ شبنم په ځائے ګلونو نه څځېږي وينې
دَ فضاګټ دَ پرهرونو نه څځېږي وينې
دَ مرغزار مازيګرونو نه څځېږي وينې

دَ پيربابا په ماښامونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائسټونو لمبې پورې شولې

دَ ګل قاتله! دَ ګلونو ګلستان ورانوې
دَ ښاپېرو وطن، دا ښکلے پرستان ورانوې
دير باجوړ ورانوې، هم وزيرستان ورانوې

دَ پښتنو په جنتونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائسټونو لمبې پورې شولې

لمبه لمبه شؤل په بارودو لر اؤ بر پښتانۀ
په خپل وطن کښې ګرځوي کډې په سر پښتانۀ
کليو په کليو شؤل زرينه! در په در پښتانۀ

دَ پښتونخوا په عظمتونو لمبې پورې شولې
زما دَ سوات په ښائسټونو لمبې پورې شولې





ولاړه ائينې ته وه لۀ ځانه شرمېدله
تۀ ګوره لېونۍ ته، دا دَ چا نه شرمېدله؟

ما وې، "راشه! چې زلفو کښې دې ؤټومبم ګلونه"
راتلو باندې راتله خو راروانه شرمېدله

ما وې خدائے دې زما کړه دغصې نه تکه سرۀ شوه
ښېرو ته ګوابښېده، خو دَ دعا نه شرمېدله

چې ما ورله دَ مخ نه پرده پوخ پړونے لر کړو
حېرانه حېرانې ورته حېرانه شرمېدله

سپوږمۍ پټه وريځو کښې شوه، تۀ په لوپټه کښې
چې تۀ ترې شرمېدې کۀ دا له تا نه شرمېدله؟

دا څوک وه مېلمنه؟ چې غرېو نيولې وه په تلو کښې
ژړا ورله ورتله، هم دَ ژړا نه شرمېدله

پټ پټ ئې راکتل، ما چې ناڅاپه ورته پام کړو
تيټ سترګې ملامته شوه، دَ غلا نه شرمېدله

نۀ هیر وه، نۀ لېلا وه، څکه ما پسې راتلله
دَ کلي پښتنه وه، دَ دنيا نه شرمېدله

زرینه! لۀ ډېر وخت نه پس يو بل ته مخامخ شو
زۀ دې نه شرمېدمه، دا زما نه شرمېدله

# خپل خپل نصيب

چې کوم مليان اسلام اباد کښې اوسي
اسلام اباد کښې پلاټونه اخلي

کوم چې دَ کلي په جومات کښې اوسي
دَ کليوالو زکاتونه اخلي





ښکلي په مينې کښې مئينو سره ټوقې کوي
څومره بې رحمه دي، دَ زړونو سره ټوقې کوي

مونږ لېوني ورله په تشه خندا سر ورکوو
دا نازولي مو سرونو سره ټوقې کوي

زۀ ئې دَ هار په سرو غرمو کښې ؤدرؤلے يمه
هغه بې لوّظه، دَ لوّظونو سره ټوقې کوي

نۀ لۀ تسبو نه اوس خبر دے، نۀ لۀ څانه خبر
شيخ لېونے دے، دَ جنامونو سره ټوقې کوي

وړې خبرې نه دي څۀ لويه قصه جوړه کړه
زړۀ مې نادان ستا دَ خوبونو سره ټوقې کوي

ما په منت دې زنه ونيوه، تۀ لاخفه شوې
کوم يو کافر به ستا خالونو سره ټوقې کوي؟

دَ چا يوه آرزو پوره نۀ شي په ټول عمر کښې
څوک بختوَر دَ ارمانونو سره ټوقې کوي

څوک ئې يوه شېبه کوي، په څو کلونو پسې
څوک کبرژن دَ ديدنونو سره ټوقې کوي

پوهه هغه دے چې دَ وخت قدر لۀ وخته وُکړي
ناپوهه خلق دَ وختونو سره ټوقې کوي

مونږ دَ هغۀ مسيحا هم احسان ټول عمر وړے
چې دَ ملهم په نوم زخمونو سره ټوقې کوي

دَ ژوند کشتۍ به ئې دَ عشق په سمندر شي لاهو
زرينه! څوک چې طوفانونو سره ټوقې کوي





څنګه کائنات چې په رنګونو کښې ودان دے
داسې محبت په ښائېستونو کښې ودان دے

درد دے، څړيکې څړيکې دے، لمبه لمبه دے بياهم
دا لېونے زړۀ مې ستا خيالونو کښې ودان دے

مونږ چې وُ دَ شګو نه جوړ کړے ماشومتيا کښې
هاغه تاج محل مې لا يادونو کښې ودان دے

خبر دے کۀ په وېښه را پېرزو نۀ کړې جانانه!
ستا دَ ديدن بام را ته خوبونو کښې ودان دے

هيڅ نۀ کيږي مَرې! څه چې وُجنګوو سترګې
خپل وطن ته نۀ ګورې؟ جنګونو کښې ودان دے

تاسو ئې په سرځنه کښې نۀ مومئ ښاريانو!
کوم حسن چې مونږ ته په دې غرونو کښې ودان دے

عقل مې خالقه! ستا دنیا ته حق حېران ؤ
ستا قدرت خو تول په اسمانونو کښې ودان دے

هاغه خوږ وطن به پرېشانه څنګه هېر کړو؟
کوم لکه جانان چې مو په زړونو کښې ودان دے

## تندر نیولې سپوږمۍ

دا دَ کائنات نظام چلېږي دَ قدرت په زور
نخښې نخښانې ښودلې کېږي دَ فطرت په زور

څوک وائي؟ "ناجوړه ده سپوږمۍ، تندر نیولې ده"
زمکه په چورلک دَ نمر سپوږمۍ په مېنځ راغلې ده





درد دَ محبت چې ځړیکې ځړیکې شي، لمبه نهٔ شي
دا خو، لکه ګل چې پانې پانې شي، وړمه نهٔ شي

تېنګه په وعده نهٔ ده، بې لوظه ده، خو څهٔ ؤکړم؟
هېڅ وئېلے څکه ورته نهٔ شم، چې خفه نهٔ شي

حسن دے او مینه ده، جذبې دي دَ تنکۍ ځوانۍ
راز دَ محبت درنه په سرو شونډو تپه نهٔ شي

ؤکړه په ما داسې غارې، داسې کانې ؤکړه چې
دا دَ مینې لوبه مې په زړهٔ درنه سره نهٔ شي

زړهٔ لکه جومات هر چا ته سپین صفا ښهٔ دے
پام کوه چې سترګې دې دَ هر نظر حجره نهٔ شي

هاغه به څهٔ سر وي؟ چې تېتېږي دَ مخلوق په لور
هاغه به څهٔ سر وي؟ چې خالق ته په سجده نهٔ شي

فرق دَ مشرق اؤ دَ مغرب دَ وسعتونو دے
هر ځائے ده کعبه کعبه، خو هر ځائے کښې ګرجه نۀ شي

ګل مې ورله راؤړو، خو لۀ دې وېرې مې ور نۀ کړو
دا ښائېسته رقيب ورته په زلفو کښې دېره نۀ شي

نن پسې ؤ نۀ بائيلې زرينه! سبائے اتبار
سترګه دې ړنده ښۀ ده، خو لار درته ړنده نۀ شي

## دَ مسافر اختر مبارکي

چا مسافر ته دَ اختر مبارکي ورکول
لکه چې ؤکړی په ماتم کښې دَ خندا چقړه

حورې غلمان خندا مستي ده دَ جنت تصوُّر
زرينه نۀ شي جهنم کښې دَ خندا چقړه





زۀ دَ چا نه ګيله نۀ کړم، په نصيب کښې به مې دا وي
څۀ کمے به وي په ما کښې، څۀ نا څۀ به مې خطا وي

شپه کۀ ډېره هم اوږده وي، زړۀ چاؤدونکې، بوږنوونکې
اهتمام ئې په تياره وي، اختتام ئې په رڼا وي

سلېمان ؤ، کۀ بلال ؤ، ژوند په دواړو باندې تېر شو
دلته څوک نۀ پاتې کېږي کۀ ګدا وي، کۀ باچا وي

غم ښادي دوه رقيبان دي، چې يؤ لاړ شي نو بل راشي
نن چې کوم ځائے کښې ماتم وي، سبا هلته کښې ګډا وي

دَ دولت حرص خوړلي دَ يؤ بل سره سيالۍ کښې
مونږ حملې وهو په هر څۀ، کۀ روا کۀ ناروا وي

کۀ هر څو پرې ناچارې شي، خو بيا هم ښکارېږي درونند
چې دَ پلار په چا نظر وي، چې دَ مور چا ته دعا وي

څۀ ئې ژوند وي، څۀ ئې حال وي، سرګردانه پرېشانه
هاغه څوک چې مسافر وي، لۀ پردو خپلو جدا وي



Pukhto.Net

# سندره

کۀ دې په تلو کښې راستنه نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم
کۀ په خندا دې تکه شنه نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم

کۀ دې په تلو کښې راستنه کړم، تکنۍ دې کړمه
بيا خو به منې کنه
کۀ دې راؤګرځوم مخ په شا، مسکۍ دې کړمه
بيا خو به منې کنه
کۀ تا په خان لمبه لمبه نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم

تۀ خو دې زلفو له څنډ ورکړه! مخ نه لرې خو کړه!
بيا تماشه ؤګوره!
بنګړو له شرنګ ورکړه! دا لېچې نغمه ګرې خو کړه!
بيا تماشه ؤګوره!
کۀ ټول ماحول تپه تپه نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم





دَ غرغريز مازيګرې دا زړۀ راښکونکے منظر
دَ پرېښودلو نۀ دے
په سمندر کښې دَ زيړې نمر ډوبېدونکے منظر
دَ پرېښودلو نۀ دے
کۀ ورته تا په تماشه نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم

کۀ دَ سحر ورک شوے راشي دَ ماښام په خړه
هغه ورک شوے نۀ دے
کۀ لږ ساعت له غر پناه شي دَ باران په لړه
هغه ورک شوے نۀ دے
لکه دَ غر کۀ دې ښکاره نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم

داسې خفه خفه کۀ لاړې، پرېشانه به ئې
دَ شپې به خوب ؤنۀ کړې
په خپلو کړو باندې پښېمانه او ستومانه به ئې
دَ شپې به خوب ؤنۀ کړې

ستا په څنګل کۀ تا اوده نۀ کړم، مئېن به نۀ يم
په تا مئېن به نۀ يم



Pukhto.Net پښتو

ځومره خوږه خوږه راغلې وې، خوږې محبوبې!
دومره ترخه ولې شوې
راغلې نۀ وې لا، چې پاڅېدلې، خې محبوبې!
دومره ترخه ولې شوې
لکه ورږمه کۀ دې خوږه نۀ کړم، مئېن به نۀ یم
په تا مئېن به نۀ یم

دَ دې نه پس ته به تۀ وائې دَ جانان سندرې
دَ پرېشان سندرې
دَ نوي ژوند، دَ نوي کهول، نوي دوران سندرې
دَ پرېشان سندرې
کۀ دې ښائېست نغمه نغمه نۀ کړم، مئېن به نۀ یم
په تا مئېن به نۀ یم

# عذاب

زمونږ وطن څۀ زلزلو وران کړو
څۀ امريکې څۀ ایجنسو وران کړو
دَ ترهګرو نه چې پاتې شۀ کوم
راغے سېلاب هغه اوبو وران کړو





تا چې ځان سنګار کړو په کجل، سترګې دې تورې کړې
پوهه شوم چې ما له دَ اجل سترګې دې تورې کړې

خار دَ دیدن شوقه! چې دَ یار کلي ته بیائې مې
رسم اوس کۀ نۀ، خو دَ منزل سترګې دې تورې کړې

زرکې! دا پېښنې هسې زما دَ زرکې مۀ کوه!
نۀ دي هاغه شان، کۀ داسې شل سترګې دې تورې کړې

تا خو به وئېل، "په انتظار به زلفې سپینې کړم"
دا دَ چا دَ پاره دَ اوربل سترګې دې تورې کړې؟

تا اکبري زړۀ لوبوۀ، زۀ رقيب دې ورته کړو
هسې دَ ملا اؤ دَ بېربل سترګې دې تورې کړې

توره کړې! په تورو سترګو، سپینه لمن توره کړې!
بیا دَ چا په تور پسې دَ چل سترګې دې تورې کړې

لاخو حد زما دَ لېونې مېنې تمام نۀ دے
ايله محبته! دَ خنګل سترګې دې تورې کړې

ستا غزالې سترګې دَ زرين دَ غزل سترګې دي
تا چې کړلې تورې، دَ غزل سترګې دې تورې کړې

## زما ژوند

اوس خو دَ ژوند سره خوارې دَ مجبورۍ نه کوُم
هغه دَ زغم اؤ دَ برداشت قوَت مې پاتې نۀ شو

څۀ دجانان، څۀ دَ جانان جانان وطن يادونو
دَ زړۀ بيمار کړم، مخکښنے صحت مې پاتې نۀ شو





تۀ مې تماشه شه، چې بيا زۀ دې تماشبين شمه
تۀ را ته ائين شه، چې بيا زۀ درته ائين شمه

مينه را نه خان غواړي، پښتو را نه جانان غواړي
دوه زړونو کښې پاتې شوم، پښتون شم، کۀ مئين شمه

خلق خو به هر څۀ هر څۀ وائي، پروا نشته دے
ستا په تور کۀ تور شم، ستا په سپينو به بيا سپين شمه

جوړ دَ بودۍ تال به شي دَ نمر اؤ دَ باران په مخ
تۀ لۀ قهره سره شه، چې بيا زۀ په ژړا شين شمه

څۀ په شپېلو وائې، چې طوطي ئې دَ پنجرې اسير
تۀ را ته کونتره شه، چې زۀ درته شاهين شمه

دواړه لارې نېغې دَ جانان کلي ته تلې دي
مړ کۀ په کشمير شم، کۀ غازي دَ فلسطين شمه

تــهٔ هــم بــې لــه مــا نــه دَ بــل چــا ســره کــوه مینــه
زهٔ کـهٔ بـې لـه تـا نـه پـه بـل چـا بانـدې منـېن شـمه

مینــه پــښتنه مــې ســتا دَ حــسن غــرور نــهٔ منــې
تــهٔ زمــا شــمله شــه، چــې زهٔ خــال ســتا دَ جبـین شــمه

تــهٔ لــړه ترخــه شــه، دَ خــوږو پــه خونـد بـه پوهـه شــې
زهٔ بـه درتـه خـوږ لکـه پـه سُرو شـونډو گـبین شـمه

زهٔ ځکـه بـدل شـومه، چـې سـتا سـترگې بـدلې شـوې
تـهٔ هاغـه دغـه شـه، چـې زهٔ هـم هغـه زریـن شـمه

## گمراه

نـهٔ دَ بـل وطـن ئـې، نـهٔ دَ بـل خـانے نـه راغلـے ئـې
دا وطـن هـم سـتا دے، تـهٔ دَ دې وطـن ښـاغلـے ئـې

دا خاوره دې مور ده، مور بارودو بانـدې مـهٔ سـېزه!
دې لکـه بچـے تـهٔ پـه سـینه بانـدې سـاتلـے ئـې





گــوره گــوره وایــه! دَ هــر چــا خولــهٔ پــرې خــوږه ســاته!
تهٔ پرې شخوند کوه اؤ هم زما خولـهٔ پرې خـوږه سـاته!

شُـومه کـهٔ منـښت کـهٔ صـدقه ده، نـو حلـوه خـو ده
گـرمـه گـرمـه ؤوهـه مـلا! خولـهٔ پـرې خـوږه سـاته!

دلتـه کـښې خـو شـښخه دا یـوه درسـره نـهٔ اوسـې
هلتـه بـه دې حورې وي اوبـا، خولـهٔ پرې خوږه سـاته!

بیا دې شاه سره قاضي! دَ مفتو شراب څښکلي دي
ؤوهه مسواک خلهٔ کړه صفا، خولهٔ پرې خوږه ساته!

یـه دَ وخـت قاضي! دَ وخت منصفه! حق دې ؤخوړو
هـره نـاروا دې کـړه روا، خولـهٔ پـرې خـوږه سـاته!

یه دژوند قاتله! ژوند دې هر څـائے وینې وینې کړو
بیاهم خان ته وائې مسیحا، خولهٔ پرې خوږه ساته



Pukhto.Net

هره مور خپل خوي له په دعا کښې باچائي غواړي
تهٔ هم موريې کړه راته دعا! خولهٔ پرې خوږه ساته!

بنګ دي کهٔ لوٗنګ دي، خو بابا پکښې توکلي دي
دا دَ پير خوړده ده، خامخا خولهٔ پرې خوږه ساته!

بيا څوک دَ حالاتو رويّو ته احتجاج کوي
وُباسه پېريان ترې نه بابا! خولهٔ پرې خوږه ساته!

ستا په رضا نهٔ خمه دَ خرځ مفتي! کافر مې کړه!
ما زرين ربښتيا وُوې ربښتيا، خولهٔ پرې خوږه ساته!

Pukhto.Net

## دَ ځوي فرياد

(دَ عابد بابو هوټل ډيشان دَ مور په مړينه)

خپل شفقت اوٗ محبت دې را نه يوٗړو
ټول رحمت اوٗ برکت دې را نه يوٗړو

ستا دَ پښو لاندې جنت وُ ما دَ پاره
موري! څومره لوي دولت دې را نه يوٗړو





چې اوس را نهٔ شې يارهٔ! بيا راځې کهٔ نهٔ راځې
چې مړه شم ستا دَ پاره، بيا راځې کهٔ نهٔ راځې

لا زړهٔ مې په اختيار کښې دے، په زړهٔ کښې دې ساتمه
چې شومه بې اختياره، بيا راځې کهٔ نهٔ راځې

دَ وصل انتظار کښې مزه پس وي، چې اعتبار وي
چې شومه بې اعتباره، بيا راځې کهٔ نهٔ راځې

لا زړهٔ قلاروٗم ستا دَ راتللو لارې ته ګورمه
چې شومه ناقراره، بيا راځې کهٔ نهٔ راځې

زرينه راشه! يم ستا کلي ته درغلې
چې لاړ شم له بازاره[1]، بيا راځې کهٔ نهٔ راځې

۰۳/۰۷/۱۹۸۸ جده (سعودي عرب)

[1] بازار - زما دَ کلي نوم

# ننګيالے

(دَ خدا ے بخښلي بهرام خان (بټګرام) په مړينه دَ مرګ
نېټه ۳۰/۰۲/۱۹۸۸)

سل تنه دې مړهٔ شي، خو سردار دې الله نهٔ وژني
سل تنه پېدا شي، خو سردار نهٔ پېدا کېږي

سل سرونه خار کړم ترې نه، سل ترې نه لوګے کړمه
څنې څنې سر په سل سرونو نهٔ بدلېږي

څنې څنې خلق چې ژوندي دي، دې نه مړهٔ ښهٔ دي
څنې څنې خلق دربغه دربغه نهٔ ستونېږي

څنې مرګ تر ورځ، څنې تر مياشت، څنې تر کاله وي
څنې څنې مرګ بيا تر عمرونو نهٔ هېرېږي

چا کښې چې جوهر دَ څهٔ وي، پټ پاتې کېدے نهٔ شي
وېلي چا رښتيا دي، "نمر په ګوته نهٔ پټېږي"

ؤګوره! چمن، پرون سپرلي ګلورين کړے ؤ
نن چې پرې خزان شو، پاڼې پاڼې شو، رژېږي





ژوند چې شو پېدا، ورته په غوږ کښې مرګي ؤوئېل
"سيورے تل زما به دې په سر باندې اوسېږي"

فخرِ بټه ګرام، فخرِ ننډهيار، فخرِ دودال ارغون
وران پرې دا وطن شو، کاڼي بوټي پرې ژړېږي

ژوند خو په ژوندو خلقو کښې څهٔ نا څهٔ ژوندے اوسي
ژوند وايه هغې ته پس لهٔ مرګه چې يادېږي

شل ځله که مړ شم، بيا ژوندے شم، بيا پرې مړ شمه
نهٔ راځي زړينه! "بهرام خان" نهٔ راستونېږي

# پښتون اؤ پښتونخوا

فنکار چې خپل دَ فن اؤ لهٔ شاهکاره منکرېږي
نو دا خو لکه ګل چې لهٔ ګلزاره منکرېږي

منکر دَ پښتونخوا چې وي پښتون اؤ پښتو وائي
زړينه! حرامي به وي لهٔ پلاره منکرېږي

رهبر چې شي رهزن، لوټلې کېږي قافلې
منزل ته په مزل بیا نهٔ رسېږي قافلې

یؤ زهٔ شوم، یؤ به تهٔ شې، یؤ به بل شي، یؤ به بل
یؤ یؤ چې یؤ ځای کېږي، ترې جوړېږي قافلې

لږ پرېږده مې په مخ باندې، دَ اوښکو احتجاج
دَ سترګو په خېمو کښې نهٔ ځائېږي قافلې

اسانې مرحلې کړې، هم نږدې کړې فاصلې
په لر او بر دَ تګ چې ښهٔ پوهېږي قافلې

بینا هم نابینا دي، دَ دې ښارِ ناپرسان
په سپینه رڼا ورځ پکښې ورکېږي قافلې

کشتۍ ورپسې ؤسیزي، په مخه وي روان
نصرت ئې شي نصیب چې نهٔ ستونېږي قافلې





نن دلته سبا هلته دَ وطن خانه بدوش
بیا کډې ئې په سر کړې، روانېږي قافلې

زرینه دَ ژوندون په هر قدم، پړاؤ پړاؤ
روانې په دې لار دي، تېرېږي قافلې

## مونږ څهٔ غواړو؟

۱۷/۰۸/۱۹۹۳

مونږه دَ پښتو پښتونوالۍ په ثقافت کښې رنګ
مونږ په خپله خاوره خپل تهذیب او تمدن غواړو

مونږ دَ بته ګرام، دَ کوهستان او دَ تورغر خلق
ببل دَ اباسین په نوم یؤ خان له ډویژن غواړو

Pukhto.Net

دا څهٔ ژوند دے چې تیریږي، کله هلته کله دلته
بېګا کیږي سبا کیږي، کله هلته کله دلته

کله زهٔ درپسې ژاړم، کله تهٔ راپسې ژاړې
هسې اوښکې دې بهیږي، کله هلته کله دلته

څهٔ مې خپل غمونه ډېر وو، څهٔ مې ستا غمونه مل شول
زړهٔ مې دوه ځایه کیږي، کله هلته کله دلته

څومره خوند دې دا انکار کړي، چې سر ښوروې "نا! نا!"
تورې زلفې دې خپریږي، کله هلته کله دلته

دَ ګیلو پېټے په سر رهبار راواستوي، چې راشه!
چې زهٔ ورشمه پتیږي، کله هلته کله دلته

دَ چا خونه چې تباه شي، دَ لیکوال قصه پوره شي
افسانې دې چې جوړیږي، کله هلته کله دلته

زرین دومره کچه نهٔ ؤ، خو چې تهٔ ورته موسکې شوې
اوس په سمه لار غورځیږي، کله هلته کله دلته





نهٔ فقیري غواړمه، نهٔ باچائي غواړمه
کهٔ راکوي راله خدائے، خپله هستي غواړمه

یو دَ عقبا دوزخي، بل دَ دنیا دوزخي
نهٔ مالداري غواړمه، نهٔ غریبي غواړمه

دا دَ چل ول اؤ انا، دَ لوی چارې خپسې
نهٔ دا خاني غواړمه، نهٔ نوابي غواړمه

کرکې نه کرکه کوم، مینه دَ مینې سره
نهٔ تربګنې ورکوم، نهٔ تربګني غواړمه

پخپله خاوره باندې، په خپل وطن اؤ په ځان
خپله رضا غواړمه، خپله مرضي غواړمه

لکه یزید په جبر، ملوکیت نهٔ غواړم
لکه حسینؑ په زړونو، حکمراني غواړمه

نفس اؤ شيطان لرمه، زړهٔ دَ انسان لرمه
لږه مستي غوارمه، لږه شوخي غوارمه

سيوړے دَ ګور ګور چينار، غارمهٔ دَ واؤړې په سر
اوبهٔ دَ غرهٔ دَ چينې، باد دَ سپرلي غوارمه

دَ ماشومتيا اؤ پيرى ژوند وي دَ بل په اسره
خپلې اسرې له اسره، خپله ځواني غوارمه

دَ مرګ نه نهٔ وېرېږم، چې خامخا به مرمه
خو دَ جانان دَ پاره، لا ژوندګي غوارمه

زما شعور اؤ فکر، ما ته لا تجې جوړوي
څهٔ لېونتوب زرينه! څهٔ بې خودي غوارمه





تا چې را ته داسې په مخ زلفې وراني وراني کړې
ما ته دې دا ګراني لارې نورې ګراني ګراني کړې

ما ورله دَ مينې غېږ په مينه مينه ورکړله
تا چې پېغلې پېغلې اداګانې ماشوماني کړې

ما دَ مينې جنګ غوښتو په امن امن سترګو کښې
وخت راپسې سترګې برندې برندې قاتلاني کړې

څنګه درته نهٔ وائيم ګلچينه! دَ ګلشن قاتل
تا خو دا تنکۍ تنکۍ غوټۍ هم شهيداني کړې

ما وئېل، "پردېس ته ځم، نو څهٔ نا څهٔ خو ژوايه!"
دوه اوښکې رېښې رېښې په مخ ئې را رواني کړې

څکه دَ يار زلفې را له خدائے په لاسو راکړلې
ما ته به دَ کلي ماشومانو دعاګاني کړې

ورک شوم څکه زهٔ دَ ژوند په تورو تور تمونو کښې
ما زرين دَ تورو تورو زلفو سوداګاني کړې

# زمونږ دَ کلي جينۍ

قربان قربان ستا دَ رېښمو جامو
اے په ساده حسن کښې ښکلې جينۍ!
لکه په وران کنډر کښې ګل دَ ګلاب
ښکلې، حسينې، نازولې جينۍ!
ستا له صورت، ستا له سيرته قربان
خاموش مزاجې، غلې جينۍ!
تا له خراج دَ عقيدت درکوم
په تا سلام، زما دَ کلي جينۍ!

قدر مې ستا دَ حيا هله وشي
چې چرته ښار کښې جينکۍ وګورم
سګرټ په لاس، چشمه په سترګو باندې
وېښته ئې غوڅ په پوسکۍ وګورم
سرتوره سر، سرې شونډې تورې سترګې
سره اننګي ئې په سرخۍ وګورم
په سينما کښې هلکانو سره
فلم ته ناستې په کرسۍ وګورم
يا چې جلسه، يا څه مېله وي هلته





چې لوډ سپيکر، مائېکروفون وګورم
پکښې خبرې دَ حيا کوي څوک
چې ورته پېغله په ګفتون وګورم
په هغه وخت ګوته په خوله پاتې شم
چې ئې په غاړه کښې پتلون وګورم
خدائېګو دَ خان پورې حيا راشي
چې دَ حوا دَ لور ژوندون وګورم

خو چې په شپه دَ څوارلسمې سپوږمۍ
تورې وريځې په اسمان راشي
چې سلسلې په ښکلې مخ دَ سپوږمۍ
ګمان ګمان، چمان چمان راشي
کله چې دغه کېفيت وګورم
زما په ذهن ستا زلفان راشي
په تصور مې غورځېدلې زلفې
اوږدې اوږدې لکه ماران راشي

چې مازيګر دَ نظارو نه شي ډک
چې په فضا کښې سرودونه راشي
رنګين رنګين په سرو اؤ شنو لوپټو
زمونږ ګودر ته ښائسته راشي
لړې لړې لکه کړۍ دَ زنځير
ورته دَ زانو قطارونه راشي

مڼکي په سر دَ مکېږونو سره
ټولګي ټولګي جونه سهلونه راشي

چې په وطن باندې سپرلے راشي
په هر طرف باندې ګلونه ښکاري
چې راسمسور شي دَ شړشم ګلونه
پکښې هم ستا دَ مخ رنګونه ښکاري
چې رازرغون شي دَ شوتلو پټې
پکښې دَ پېغلو اتڼونه ښکاري
بوکل وهلې ناستې ساګ انوي
ما ته له ورايه مکېشونه ښکاري

ګلاس دې لاس کښې دَ شوملو نيولے
سوکړک په سر ابښے اشنا له ورځي
په دغه بل لاس کښې دې لور نيولے
دَ نارينه غونډې ګيا له ورځي
خدائے دې دَ خېره سره ؤرسوه!
چې خپل لالي له مشغولاله ورځي

باز تېز نظر، په بر الوت کړي فخر
زۀ ستا په ټيټو، په مړو مړو سترګو
هوسۍ په تورو غټو سترګو
زۀ ستا په مستو، خونړو سترګو
کۀ څوک دَ چا په وړو وړو سترګو





زۀ ستا په ړکو، په مړو سترګو
رنګ دَ حيا پکښې سور سور ښکاري
خار شمه ستا دَ مرخيو سترګو

يَه دَ زلميو دَ ننګ ناموس سرمائې!
اے دَ حيا په لوپټې کښې پټې!
تا ته پخپله ائينه ده خواني
دَ پېغلتوب په ائينې کښې پټې!
ستا په پړدې کښې ستا ښائېست ښکلے دے
دَ ښائېستونو په پړدې کښې پټې!
څومره عظيمه اؤ درنه ښکارېږې
دَ پښتنې درنې جامې کښې پټې!

زرين به ولې په تا نۀ وي مئېن؟
ځکه چې تۀ ئې په حيا مئېنه
دَ بابا جان شمله دې ښکته نۀ شي
کۀ په رښتيا ئې دَ بابا مئېنه
هم دَ لالا سترګې چې ټيټې نۀ کړې
هېڅ چرته نۀ شي په بل چا مئېنه
تۀ چې تر څو پورې پړده کښې اوسې
په تا به وي ټوله دنيا مئېنه

(زما خوږ ملګري اکبرسیال را ته د اختر په ورځ په ګرځنده ټیلیفون د اختر مبارکي راواستوله، چې دغه وخت زهٔ د اردن په برید یوه صحرا کښې مېشته وم. د الجوف (سعودي عرب) په دې دشته کښې زما اختر هم دغه کمپنۍ کښې ملازم یو بل ملګري سره تېر شوے و. دلته د سیال رالېږلې شوې قطعه او د هغې ځواب کښې زما لیکلې قطعه لیکم، چې زما او د سیال مینه دې کتاب کښې خوندي شي)

لږه غوغا، لږه ژړا، لږ به ماتم کم شي
اختره! ښه ده چې تهٔ راشې، لږ به غم کم شي
د زړهٔ وطن مې ټول اوبهٔ اوبهٔ، سېلاب سېلاب دے
په دې بانه به مې د ډوبو سترګو نم کم شي
اکبرسیال

ما کهٔ خندا کښې ژړولے شې، راځې دې اختر
زما زخمونه کهٔ ګنډلے شې، راځې دې اختر
په دې بارود بارود، سېلاب سېلاب ماحول کښې جانان
نوې جامې کهٔ اچولے شې، راځې دې اختر
زرین پرېشان





# یادګیرنه:

هم دغه قطعه مې اختر جاوېد اختر ته واستوله. هغهٔ راته په ځواب کښې یو شعر راولېږلو، چې د هغې بدل کښې مې هغهٔ ته هم یو قطعه واستوله او دغه شعر او قطعه هم دلته زمونږ د مینې ژوندي ساتلو د پاره دې کتاب ته سپارم

د سېلابونو، د وحشت خبرې مهٔ یادوه!
مونږ په سلګیو کښې د مودو مودو اختر کړے دے
اخترجاوېد اختر

چرته چې سلګۍ وي، ماتمونه وي
هلته د اختر تصور نهٔ کېږي

چرته چې کورونه سېلاب وړي وي
هلته کښې اختره! اختر نهٔ کېږي
زرین پرېشان

دَ ژوندون په ویرانه کښې دَ هجران غرمو ته ناست یم
په دې دشت دَ ناپرسان کښې دَ اشنا وعدو ته ناست یم

تا وئېل، "چې یوه ورځ به تا په غېږه کښې اودهٔ کړم"
ستا دَ دې وعدې په طمع، اخیري سلګو ته ناست یم

زهٔ دې څهٔ کړم اباسینه! کهٔ رڼا کړې تور تمونه
زهٔ لا هغسې دَ تېلو، دَ ډیوۀ لوګو ته ناست یم

دَ خودۍ، دَ سرِیتوب اؤ دَ پښتو کاڼے مې مات شو
ستا دَ پاره یاره! ستا دَ پردو خپلو پښو ته ناست یم

دغه بحث دَ ګلونو دَ سپرلو نهٔ دے یارانو!
چې فکرونه پرې زرغون شي، زهٔ هغو سپرلو ته ناست یم

خلق ؤختل سپوږمۍ ته، دَ مریخ په لور روان شول
زهٔ زرین لا په دې زمکه، دَ کاروان وتو ته ناست یم





زما قاتل هم ما له وژني، هم دوا راکوي
ما له تیارو ته غور خوي، لاس کښې رڼا راکوي

څهٔ خودغرض یمه، دَ خپلو خواهشونو غلام
زما ضمیر ما له زما دَ مرګ صلاح راکوي

ما له واپس بیا دَ غارونو زماني ته بیاني
چې دَ قلم په ځائے تویک لاس کښې زما راکوي

وائیم دَ هاغه نادیده په مخ واپس ؤولم
څوک چې احساس دَ خپل احسان را ته بیا بیا راکوي

چې زهٔ ئې هر ستم، هر ظلم په سر سترګو وړمه
ما له جانان مې بیا دَ کوم جرم سزا راکوي

په ما زما دَ کور کنډر زرینه! هم ماتوي
ما له په ما باندې شړي، ما له همسا راکوي

ژوند څۀ دے؟ خو لږ غونډې ساعت دَ پاره لوبه ده
ټوله بس دَ مرګ دَ مصلحت دَ پاره لوبه ده

دا دَ کائنات هره ذره ذره چې ساه اخلي
جوړه دَ فطرت دَ عقوبت دَ پاره لوبه ده

دا دَ جاګيردار سرمايه دار، وراثتي نظام
دغه خو زمونږه دَ غربت دَ پاره لوبه ده

دا دَ پير مرشد دَ فقيرۍ دَ ملنګۍ چغه
خپل دَ کاروبار اؤ دَ شهرت دَ پاره لوبه ده

دا چې کال نه پس زمونږ دَ مړو دعاګانې کړې
دا دَ سياست دَ بصيرت دَ پاره لوبه ده

نۀ راځي، پېريان اؤ ښاپيري په هېڅ نۀ راځي
دا دَ توجه اؤ اهميت دَ پاره لوبه ده





تۀ پکښې مؤمن، زۀ ګنهګار اؤ هغه سور کافر
ټوله دَ دوزخ اؤ دَ جنت دَ پاره لوبه ده

چرته څوک درخو په چا لېلا منښنه نۀ شوله
مينه دَ جذبو دَ حرارت دَ پاره لوبه ده

يؤ دے معرفت، يؤ عقيدت اؤ يوه مينه ده
درې واړه معنی کښې دَ قربت دَ پاره لوبه ده

دربغه پرېشانه! دنيا ټوله مسلمانه وے
وېش دَ مذهبونو دَ نفرت دَ پاره لوبه ده

Pukhto.Net

## قدآور

ځنې عالم څومره خوارۀ ښکارېدل
لږ لږ قدونو کښې درانۀ ښکارېدل

چې لږ نزدې ورسره ؤدرېدمه
مندري مندري، واړۀ واړۀ ښکارېدل

محبت زما مذهب زما ایمان دے
په اشنا باندې مې سر او مال قربان دے

که جومات او درمسال جدا جدا دي
مینه نه ګوري، هندو که مسلمان دے

شیخ په حورو نالیدلو خان تېرباسي
ما په دې سترګو لیدلے خپل جانان دے

په یوه بوسه دې شیخه! دوزخي کړم
یو انسان یم، بل مې نفس سره شیطان دے

لوي چارې په مال او رنګ قامیت نه ده
چې دَ بل په چاره راشي، لوي انسان دے

دَ نن کړه سبا ته مه پربږده نېستمنه!
وخت وُدرېږي نه، په مخه خي، روان دے





دَ غزل په تخیل چې څوک پوهېږي
هر غزل زما هغو ته چراغان دے

چې پښتو! په هزاره کښې دې پښتون کړم
په هزار خله دې ما باندې احسان دے

که راځي، څوک وخت خپلے زرین ګوري
پرېشان دے، پرېشان دے، پرېشان دے

## خواهش

منم چې خپل غربت مې نه دے پکار
خو دا پردے دولت مې نه دے پکار

دَ چا دَ قتل په بدل زرینه!
په وینو سور جنت مې نه دے پکار

Pukhto.Net پښتو

# ځان مرګي بريدونه

لوګي لوګي شوې دَ بارودو په لمبو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

ستاسحرونو کښې اوس هاغه تازګي نشته دے
سړې غرمې نشته تودهٔ مازيګري نشته دے
ګرمې محفلې دَ رنګونو ماښامې نشته دے
هرڅهٔ موجود دي خو په څهٔ کښې زندګي نشته دے

وران شوې زمونږ دَ منظرونو تماشو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

پيکه پيکه شوه ستا دَ کليو دَ ښارونو ښکلا
سره سمخه شوله ستا دَ بازارونو ښکلا
ستا دَ بڼونو، ميدانونو، چمنونو ښکلا
دَ نغمه زارو نښترونو چينارونو ښکلا





تاله ترغه شوې دَ ګلونو دَ سپرلو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

دلته قدم په قدم دے زړهٔ لړزونکے احساس
دَ ژوند او مرګ په بريد ولاړ يو بوږنونکے احساس
يو ناڅاپي دَ تندرونو غوږ څونکے احساس
دَ غېر يقينه کيفيت يو ويرونکے احساس

په هر قدم دَ خطرناکو حادثو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

وطنه ستا په لراوبر باندې بل شوے دے اور
ستا په کابل ستا پېښور باندې بل شوے دے اور
په قندهار او آشتنغر باندې بل شوے دے اور
جلال اباد او په خېبر باندې بل شوے دے اور

پخپله لوټې لوټې کړې خپلو بچو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

دَملاکنډ په سر دَ ژوند تپه کښولے نهٔ شم
چې دَ بُونېر او سوات زخمونه پرې ګنډلے نهٔ شم
دَ باجوړ او دير ګلونه خندولے نهٔ شم
په وينو سور وزيرستان اتڼولے نهٔ شم

کنډر کنډر شوې دَبدبختو دَسپېرو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

وطنه ستا په ګل درو په سر درو مې قسم
دکونډو رنډو يتيمانو په سلګو مې قسم
ستا دَ بچو دَ شهيدانو په خازو مې قسم
ستادَسرتوره خوٚائېندو ميانډو په جذبو مې قسم

بيابه دې ناوې کړم دَامن په جامو وطنه
دَ پښتنو وطنه، يه دَ لېونو وطنه

Pukhto.Net
پښتو

## زما جاګير

بې لهٔ خدايه، نورهر څهٔ لره خپل حد دے
ژوندبه تېر شي په ما،ښهٔ دےاؤ کهٔ بد دے

کهٔ دا ټوله دنيا فتح کړم، زما شي
ما زرين له پکښې دوه ګزه لحد دے





هاغه څهٔ سپرلے دے چې هر ګل پکښې سمسور نهٔ وی
هاغه مازيګر چې پکښې ستا دَ بنګړو شور نهٔ وی

عشقه زلميتوب زين کړے آس دے خه ورخيژه پرې
هاغه څهٔ خوانى ده چې پرې تا بل کړے اور نهٔ وی

سترګو کښې چې خوږ شى زړهٔ کښې جوړ شى دَ ښائيست تصوير
هر جانان، جانان دے، په جانان کښې سپين او تور نهٔ وی

زهٔ خو وار خطا شم چې تهٔ مخ په بله واؤړوې
تهٔ خومره لؤ لور شې چې مې ستا په لورې لور نهٔ وی

دلته خپل شراب څښکل عيب دے بې عيبه پردى وينه
دلته سړى خور دے قدرمند خو چې مېخور نهٔ وی

هر څو کهٔ سُرخى، رانجهٔ نکريزى او جامې راؤړى
هاغه څهٔ اختر دے ستا اوربل چې ورته خپور نهٔ وی

Pukhto.Net

نفسه خواهشونه دې منم خو داسې هر يو نۀ
هاغه به کوم چې کوم سبا راته پېغور نۀ وي

زۀ دَ خپل وطن په دې نظام ډېر پرېشان يمه
مړو له جوړ وي ګور خو ژوندو له پکښې ګور نۀ وي

# دَ شهیدانو وطن

دَ کور خاوند او کۀ نۀ غل شهيد دے
چا ته کۀ يو، نو چا ته بل شهيد دے

دَ شهيدانو په وطن کښې اوسو
دلته مقتول او هم قاتل شهيد دے

(۲)

شهيد به ولې خلق بيا لمبوي
پخپلو وينو ژلمبيږي کنه!

خلق ترې خکه جامې نۀ ؤباسي
چې فرښتې ترې نه شرميږي کنه!





# اتـل

(دَ اجمل خټک په مرګ)

ستا دا وړه غونډې کچه جونګړه
دَ سپين صفا سياست دان نخښه ده
ستا سياست، ستا شاعري او ادب
دَ باچاخان، دَ خوشحال خان نخښه ده

اے دَ "جونګړې"، دَ "لالټين" ملنګه!
په خپل رباب، په خپل کچول مئينه!
په فقيرۍ کښې هم باچا ښکارېدې
په خپل څادر، په خپل پکول مئينه!

لکه ګوهر چې په سيپۍ دننه
ستا په جمال کښې ستا جلال اوسېدۀ
په دې ساده باده جامو کښې خټک
سمبال سمبال، خوشحال خوشحال اوسېدۀ

يه دَ پښتون په ننګ ناموس مئينه!
ستا "دَ غيرت چغه" دَ ننګ چغه وه

دَ هر مظلوم دَ سر دَ امن سیورے
دَ هر ظالم خلاف دَ جنګ چغه وه

ته په یؤ شان وې په ظاهر او باطن
په خوږه ژبه دَ ګفتار غازي وې
دَ لر اؤ بر دَ پښتنو رهبره!
ته په رښتیا دَ ښهٔ کردار غازي وې

ته یؤ غریب وې، په غریب خُوږېدې
دَ هر غریب په غم ژړلي دي تا
ستا دَ غیرت دَ چغې دغه چغه
لکه چې څهٔ ښکلي وئیلي دي تا

"غټان غټان، ښکان ښکان پیدا دي
دا خو لهٔ موره جنتیان پیدا دي
ځي هغه خوارو له جنت ؤګټو
څوک چې لهٔ موره دوزخیان پیدا دي"
اؤ یا
"منم چې مېښې دَ نواب صاحب دي
دې کښې خبره کؤل توان دَ چا دے؟
ولې؟ اے اے دَ انسانانو ربه!
دغه ګوجر غریب انسان دَ چا دے؟"





یه قام پرست، وطن پرست پښتونه!
انسان پرست، انقلابي شاعره!
زمونږ په زړونو کښې به اوسې مدام
زمونږ ملي، زمونږ قامي شاعره!

دَ سرو ګلونو دَ چمن وارثان
داسې بلبل به را پیدا نهٔ کړي بل
دَ اشنغر خانان کهٔ ډېر ؤګرځي
لکه اجمل به را پیدا نهٔ کړي بل

دریغه زمونږ حکمرانان زړینه!
لکه اجمل غونډې کښې تېر کړي عمر
نهٔ ترې بنګله، نهٔ ترې ماڼۍ پاتې شي
دَ یؤ اتل غونډې کښې تېر کړي عمر

# لوبه

دا دنیا څهٔ لکه دَ لوبو دَ بچو کوټګۍ
دَ خوټکښې نه ګېر چاپېره ماشومان ښکاري
دَ چم وارهٔ ناست ګوډاګي ته بیا ګوډۍ ودوي
ما ته په دغه ګوډاګو کښې هر انسان ښکاري

پـه تـصوّر مـې دَ رنګونـو بهـار ؤغـوړوه!
خپـرې ورې زلفـې دَ مـخ پـه ګلـزار ؤغـوړوه!

کـۀ دَ اقـرار اظهـار کـوې، نـو پـاڼې پـاڼې ګـلاب
چې مـازيګر ګـودر تـه ځې، نـو پـه لار ؤغـوړوه!

دَ محبت دَ جنګ اعـلان کـۀ کـوې تـۀ، نـو خپلـه
سـره لوپټـه را تـه دَ چم پـه چينـار ؤغـوړوه!

کـۀ غـوارې مـا دَ خپلـه خدايـه، دَ ګلونـو څادر
پـه عقيـدت دَ چـا منـښن پـه مـزار ؤغـوړوه!

سپوږمۍ روښانه ده په نمر اؤ تۀ په ما محبوبې!
لکـه دَ نمـر مـې دَ سپوږمۍ پـه مـدار ؤغـوړوه!

سـتا دَ سـتم دَ انتهـا جـرأت بـه هلـه مـنم
لکـه منصور مـې تماشـې تـه پـه دار ؤغـوړوه!

چې اباسين وږمه وږمه شي دَ ننديهار ملوکې!
ګېـډۍ دَ زلفـو دَ ننـدهيار پـه ابـشار ؤغـوړوه!

کـۀ دَ زريـن دَ زړۀ پـه ښـار حکمرانـي غـواړې نـو
خپـل کليـوال حسـن دې راؤړه، پـه ښـار ؤغـوړوه!





لـۀ تـا نـه ځـار شـم پـه مـا ګـران جانانـه!
تـا نـه قربـان شـمه قربـان جانانـه!

تـۀ چې څونـډې لـه پـه مـخ څنـګ ورکـوې
زړۀ مـې راټـول شـي، بيـا شـي وران جانانـه!

سـتا دَ سـپرلي سـپرلي ځـوانۍ نـه قربـان
زمـا دَ زړۀ دَ درد درمـان جانانـه!

چـا تـه بـه څـۀ، چـا تـه بـه څـۀ ښکارېږې
مـا تـه ځـو ښـکارې زمـا ځـان جانانـه!

څـو بـه دَ زړۀ خبـره زړۀ کـښې سـاتم
نـن درتـه وائيمـه "جانـان" جانانـه!

هـم ورانـوې، هـم جـوړوې بـه ئـې تـۀ
زمـا دَ زړۀ دَ کلـي ځـان جانانـه!

خپر دے کۀ تا باندې بدنامه شمه
گټه همېش وي په تاوان جانانه!

اوس دَ راتلو امکان دې پاتې نۀ شو
په غرونو کښېوتۀ باران جانانه!

زۀ پرېشانه کړمه ستا يادونو
وطن ته راشه پرېشان جانانه!

# مسلمان

تۀ کۀ کافر کره پېدا شوې، څۀ کافر خو نۀ شوې
تۀ ځان کښې وګوره، په تا کښې مسلمان ښکاري
زۀ کۀ پېدا شوم مسلمان کره، زما څۀ کمال؟
کمال به دا وي، چې احسان را ته احسان ښکاري





ساقي! ما نور دَ جام دَ څښکلو نه قسم کړے دے
ما دَ پيالو دَ جنګولو نه قسم کړے دے

تا بيا په شونډو دے مښلے دَ لفظونو ګبين
ما دَ خوږو خوږو خوړلو نه قسم کړے دے

ما وئيل، "تۀ دَ خپل ښائست نه څۀ خبر نۀ يې که نۀ؟"
هغې وې، "ما دَ مخ کتلو نه قسم کړے دے"

هغې وې، "سرې شونډې مې، تورې سترګې، شنۀ خالونه"
ما وئيل، "ما دَ رنګېدلو نه قسم کړے دے"

ما ورته وې، "چې اوس ګودر ولې پيکه دے؟"
هغې وې، "ما ورته دَ تللو نه قسم کړے دے"

ما وې، "کۀ ما درته اظهار وکړو، نو بيا به څۀ وي؟"
هغې وې، "تا خو دَ کنځلو نه قسم کړے دے"

Pukhto.Net

مـا وئيـل، "سـتا دَ کلي خلـق را تـه لارې ښـاري"
هغې وې، "مـا دې دَ ښـارلو نـه قسم کـړے دے"

لکـه جانـان زرينـه! ښـې ښـان منـونکي خلـق
دې ښـو ښـو مـې منلـو نـه قسـم کـړے دے

# مـلازه

شـولګره بې بارانـه هسې هم اوبۀاوبـۀ وي
کۀ ښکاري لمبه اؤاوتاړه کښې باران ښکاري
پـه لويـو لويـو بانـدې لويـه مـلازه ده وړه
وړو وړو تـه مـلازه وړه، جهـان ښـکاري





چرتـه پـه اظهـار چې لګېدلي قدغونـه وي
هلتـه پـه بې وسـو حوصـلو بانـدې ظلمونـه وي

شـې دې، تـار پـه تـار زمـا دَ کلکـو ارادو لمـن
چرتـه چې ازغي تـوکيږي، هلتـه هم ګلونـه وي

هاغه سپين نغرے چې ښان دَ اور په لوګو تور نۀ کړي
هلتـه لـوږې تنـدې اؤ سـارۀ سـارۀ اهونـه وي

مرګ دَ سپين کفن خو دَ بې غمه ژوندون نخښه ده
ژوند چې وي په دار هلته کښې سرۀ سرۀ کفنونه وي

ورک دې شـې دا ژونـد دَ احسانونو دَ زبادنو ډک
نۀ وي خوشحالي، چې پکښې ټول عمر غمونه وي

غوڅ هاغه سرونه شي چې ټيټ شي، وي به هسک هغه
چـا دَ دار پـه سـر بانـدې شيندلي چې سـرونه وي

مهٔ راځه اشنا! چې ستا عظمت پرې سرټيټي کوي
يار ته خو دَ يار کچه جونګړې محلونه وي

عشقه! ځيرې نهٔ کړې دَ ښائېست دَ اعتماد پلؤ
غبرګې ورله ورکړه، خو دَ مينې څهٔ قېدونه وي

هاغو نه زرينه! ؤيوښته دَ خپلواکۍ مزې
چا چې دَ سينو به سر ځکلي سنګينونه وي

## غټان

دا چې نن خيږي دپښو سره دَ تخت دَ پاسه
سبا ئې ګوره! بيا چې پښې ابله په ډېران ښکاري
پکښې به دل شي درامبېل اؤ دَ چامبېل ګلونه
خانان به بيا ځان کښې يؤ بل سره خانان ښکاري





# خپل خپل وي، پردې پردې

اختر

پردې اولس اؤ په پردي وطن کښې
سړي ته ځان ځومره پردې ښکاري

نهٔ ورله غاړه اؤ نهٔ لاس ورکړي څوک
لکه په ښځو کښې سړې ښکاري

ځار شم دَ خپل وطن، دَ خپل اختره
خپل شخصيت پکښې ژوندې ښکاري

زيات مينه ناک مې دَ پښتون بچي نه
والله کهٔ بل دَ مور بچې ښکاري

په سخاوت اؤ مېلمستيا کښې پښتون
ټولو قامونو کښې ورومبې ښکاري

پښتون په امن کښې دَ کور کونتره
په نارينتوب کښې شين زمرې ښکاري

کلک په وفا او پت په ننګ کښې پښتون
لکه دَ شين کاڼي غرګې ښکاري

په خپل مذهب باندې مئين پښتانه
بچې بچې، زلمي زلمي ښکاري

ځکه مغرب ته پښتانه زرينه!
پخپلو سترګو کښې ازغي ښکاري

# پلار

بچي ته پلار دعا کوي، چې خدائې دې لوې کړه بچې!
ځکه چې ځان ورته دکلکو متېو ځوان ښکاري
دَ ځوي ځواني دَ پلار پيري ده او هم مرګ زرينه!
ځان ته ښېرې کوي، په ځوي کښې ورته ځان ښکاري





زهٔ دَ ښائېستونو دَ ښکلا نه متاثر يمه
ځکه خو جانانه! زهٔ لهٔ تا نه متاثر يمه

هسې خو ښائېست دے کمزوري دَ انساني فطرت
هر ښکلے مې ښې شي، خو اشنا نه متاثر يمه

هسې خو دَ يار هره ادا په زړهٔ کښې لار کوي
زهٔ ئې دَ نرې نرې خندا نه متاثر يمه

هسې خو حيا دَ هرې پېغلې سره ښائي خو
زهٔ دَ کليوالو دَ حيا نه متاثر يمه

هسې خو دَ مور او پلار دعا دَ کاڼي کربښه ده
زهٔ دَ هرې کونډې مور دعا نه متاثر يمه

هسې خو دَ هر غريب مظلوم او ښکه لمبه کوي
زهٔ دَ يتيمانو دَ ژړا نه متاثر يمه

هسې ځو پښتون دَ ننګ اؤ تورې نه جوړ شوے دے
زۀ ئې دَ ښـېګړې دَ وفـا نـه متـاثر يمـه

زۀ دَ چـا لنـدن اؤ واشنګټن اؤ پېرس څۀ کوُم؟
زۀ دَ خپلـې خـرې پښتونخوا نـه متـاثر يمـه

څوک دَ اتاترک، څوک دَ لېنن، څوک دَ منډېلا نه
زۀ دَ خپـل ملنـګ پښتون بابـا نـه متـاثر يمـه

نۀ ګورې چې ؤګورم، چې نۀ ګورم نو ؤګورې
ستا دَ غلچکـو سترګو دَ غلا نـه متـاثر يمـه

هسې خو دے هر پښتون زرينه! په مېلمه مئېن
زۀ دَ بتهـه ګـرام دَ مېلمستيا نـه متـاثر يمـه





ستـا پـه لـورې مـې چـشمان دي، تـۀ رانغلـې
تنـګ پـه مـا زمکـه اسـمان دي، تـۀ رانغلـې

چې خبر لـه مې څوک راشي، ستا تپوس کړي
پـه تـا دوه قدمـه ګـران دي، تـۀ رانغلـې

بې لـه تـا نـه، نـوره ټولـه دنيـا راغلـه
خلـق يـو بـل تـه حېـران دي، تـۀ رانغلـې

دا وريځـې، دا بـاران، دا دَ سـپرلي شـپه
دَ موسـم نيتونـه وران دي، تـۀ رانغلـې

تـا پسې مـې خنکـدن دے پر بـشانه!
را تـه جمـع خپـل خپلـوان دي، تـۀ رانغلـې

عشقه! ستا ارمان مې په زړۀ بې اظهاره پاتې شو
شونډو ته ؤ نۀ رسېد ، په لاره لاره پاتې شو

ما ته دواړه يؤ دي، ما ته خاندي اؤ کۀ ما پسې
تار په تار ګرېوان مې اوس لۀ ستن اؤ تاره پاتې شو

څي په مخه مخه، په شا شا ګوري په هر قدم
زړۀ ئې را نه يؤړو اؤ کۀ زړۀ لۀ ياره پاتې شو

مينه کښې وصال دَ اختر تال دے، وار ته وار غواړي
بې واره چې وار غواړي، هغه لۀ واره پاتې شو

ما اؤ جانان يؤ بل ته وئېل څۀ، چې رقيب راغے
ما کړو ځان ناجانه، هم هغه نانګاره پاتې شو

بې دَ مينې نور کارونه ډېر دي، دا منمه خو
مينه چې لۀ ژونده اؤخي، ژوند بې کاره پاتې شو

دا زړۀ چې زما ؤ، نو زړينه ؤ دَ دۀ اختيار
دا زړۀ چې دَ بل شو، اوس لۀ خپل اختياره پاتې شو





# سپرلے

چې راشې ته، زاړۀ يادونه يادوې سپرليه!
ته په خندا راځې، خو ما له ژړوې سپرليه!

ستا په هر ګل کښې دي دَ يار دَ اننګو رنګونه
ورته زما دَ حسرت سترګې زوروې سپرليه!

ښائېسته ګلونه دې ښائېسته خلق په زلفو پوئي
يؤ پرې ښائېسته کړې، دَ بل خونه ورانوې سپرليه!

را يادوې را ته سحر دَ چا پرانستې سترګې
اودې غوټۍ چې په سحر کښې غړوې سپرليه!

مستې هوا چې دې لۀ مست رخسار پلۀ واخستو
ورته دا خپل ګلونه ولې شرموې سپرليه!

غزل غزل کړمه دې ستا سندرئيز مازيګر
چې په فضا کښې سرودونه خوروې سپرليه!

په دې محفل کښې هنګامې به دې يؤ څو ورځې وي
چغوه! څو دا بلبلان به چغوې؟ سپرليه!

لړې وږمې درنه زرين دَ يار دَ زلفو غواړي
ستا به څۀ کم شي؟ په جولو راغونډوې سپرليه!

تر څو چې ښکلے جانان ؤ نۀ بخښي
تر هغې ما دې رحمان ؤ نۀ بخښي

هاغه بدبخته بدنصیبه وي دِ ہر
چې مور اؤ پلار ئې وي، ځان ؤ نۀ بخښي

چې کوم تالي کښې خوري، هغې کښې توکي
رب خو دې داسې شیطان ؤ نۀ بخښي

چې مظلومانو باندې ظلم کوي
خدائے خو دې داسې خانان ؤ نۀ بخښي

چې خپل نیکۀ اؤ دَ پلار پلار جوړیږي
داسې خامن به پلاران ؤ نۀ بخښي

چې توبه ؤباسي، بیا نۀ ماتوي
خالق به څنګه انسان ؤ نۀ بخښي





چې علم واخلي، علم نۀ ورکوي
مولا به داسې مُلیان ؤ نۀ بخښي

چې په قران خان له بنګلې ؤدروي
داسې قاریان به قران ؤ نۀ بخښي

کۀ ټول جهان له بخښنانه نۀ غواړي
خدائے دې زرین پریشان ؤ نۀ بخښي

## سپیناوے

هغې لۀ لاسه زۀ په ځان پسې راښکم، وئیل ئې
"خلقو ته تۀ زما په حقله څۀ خبرې کوې؟"

ماوئیل، "زۀ وائیم، چې تۀ د زړګي سر ئې زما"
هغې وې، "بیا ؤوایه! څومره ښۀ خبرې کوې"

ځنګه ماته ماته په مُلا واوښتېده
شُنه شوه له خندا نه، په شا واوښتېده

بيا ئې تورې سترګې تکې تورې کړې
تکه توره شپه په سبا واوښتېده

غلې غلې ګورې دَ بنو لاندې
ګوره لېونی ته، په غلا واوښتېده

ما وئېل، "دَ چا ئې اؤ دَ چا نهٔ ئې؟"
پورته شوه اؤ بيا، په خندا واوښتېده

مينې مې نڅوړ کړله دَ تن وينه
دا راباندې کومه بلا واوښتېده؟

ما چې ئې له مخه پلو واوړو
سترګو نه ئې ټوله حيا واوښتېده





تا به هم ناصحه! په خان واوړوې
هغه لېونی کهٔ په تا واوښتېده

ما وئېل، چې "ځنګه په شا اوړې ګل؟"
دې وئېل، "اے داسې!" اؤ بيا واوښتېده

کړې ئې وعده وه دَ راتلو پرون
نن ترېنه زرينه! صفا واوښتېده

## دَ ژمي شپې

هغې وئېل، "پخوا به نيا راته دَ ژمي په شپو
دَ ښاپېرو اؤ دَ دېوانو اوږدې قصې"

ما وې، "نن هم واوږينه شپه دَ.. څه چې نيا له ورشو"
هغې وې، "نهٔ، نن به يؤ بل ته کوو خپلې قصې"



Pukhto.Net

تـا ورلـه دَ خپلـو اننګـو اوبـهٔ ورکـړې دي
څکـه خـو ګلونـو لـه سپرلو اوبـهٔ ورکـړې دي

داسې لکه څاڅکے څاڅکے پرخه دګلاب په مخ
بيـادې اننګـو لـه دَ خولـو اوبـهٔ ورکـړې دي

ګـل بـه دوصـال دَ انتظـار پـه دشـته ؤخانـدي
تـا ورلـه جانانـه! دوعـدو اوبـهٔ ورکـړې دي

تـږے دَ ګـودر پـه غـاړه، تـږے تـږے تېروتـهٔ
چـا دَ مـازيګر پـه تماشـو اوبـهٔ ورکـړې دي

څنګـه بـه ساقي! درتـه رندان پـه ګډا سر نـهٔ وي
تاورلـه دَ خـود نـه دَ وتواوبـهٔ ورکـړې دي

بيازړهٔ مستوونکے باد په ټول کلي کښې الؤوځي
بيـا ئـې لـوپټې لـه دوړمـو اوبـهٔ ورکـړې دي





ستـارنې رنـې دا تـورې سترګې بـه مـې ؤوژنـي
تـا چې ورلـه داسـې دَ رنجـو اوبـهٔ ورکـړې دي

څکـه خـو زمـا دَ شـونډو زمکـه غزلـزاره ده
تـا ورلـه دَ سرو شـونډو دَ سرو اوبـهٔ ورکـړې دي

نـوے کهـول زرينـه! سترګؤرا ؤژوربين بـه وي
مـونږ ورلـه دَ سترګو دَ اوبـو اوبـهٔ ورکـړې دي

## ولؤلې

(دَ يؤ ملګرې قاسم (دير) دَ يؤ ګرخنده ټيليفون دَ پېغام خواب کښې)

بدرى ته وايې، "ملوک راغـے، هـېڅ پروا مهٔ کوه!
دَ پرستـان ښـاپيرې هـېڅ درتـه ونـهلے نـهٔ شـي"
نـر ادم زاد يم، شـهزاده دَ پـښتونخوا دَ وطـن
دکوهِ قـاف دېـوان دې هـم رانـه ېـولے نـهٔ شـي

حالات بدل شول، اوس دوخت غوښتني هاغه نهٔ دي
زړونه هم هاغه دي، دَ زړونو میني هاغه نهٔ دي

هاغه درنې درنې پګړۍ اؤ هڅکې هڅکې شملې
هاغه دَ چپل څوکې په واؤرو سپینې هاغه نهٔ دي

اوس تندرونه دَ نظر دي زړونه نهٔ درزوي
دَ سترګو جنګ کښې دې هغه بلنې هاغه نهٔ دي

اوس دَ ربښتو دَ تقدس مزے لنډ شوے دے ډېر
رښتې رښتینې دي، جذبې رښتینې هاغه نهٔ دي

نهٔ پښتون خان دَ چا یقین شته، نهٔ په بل چا اتبار
دَ محبت دَ رویّو پالنې هاغه نهٔ دي

چې هر بانهٔ نه ئې احساس دَ خپلولۍ څڅېدهٔ
په هغه سترګو کښې زما څارنې هاغه نهٔ دي

څکه مغرب کړې په مشرق حکمرانې زرینه!
چې په مشرق کښې دَ مشرق څېړنې هاغه نهٔ دي





زما اؤ ستا چې یؤ بل سره سترګې جنګېدې
زهٔ تا نه شرمېدمه، تهٔ زما نه شرمېدې

اظهار اؤ دَ اقرار په وخت جذبې دَ محبت
څهٔ ګرانو بوږنؤنکو مرحلو نه تېرېدې

دَ درد دَ څړیکو شور کړو را نه شور دَ مینې راز
څهٔ زهٔ نهٔ پوهېدم په څان، څهٔ تهٔ نهٔ پوهېدې

زمونږ دَ محبت قصې پرې لاواخستهٔ رنګ
په تا پسې جرندې اؤ ما ته لارې څارېدې

ځواني، ښائېست، نشه، مستي چې یؤ ځائے شوې ساقي!
کاسې خو خامخا به مېخانې کښې ماتېدې

آدم چې دَ عدم نه قدم کېښودهٔ په زمکه
پخپله ئې ژړل اؤ فرښتې پرې خندېدې

خوږې خوږې خبرې په محفل کښې دَ جانان
زرینه! لکه پهې په زخمونو لګېدې

تا را ته خندل، نو ما به څهٔ کوّل؟
ما درته کتل، نو تا به څهٔ کوّل؟

دا زمونږ نیمګړې نیمه خوا قصه
ښهٔ شوه سر ته نهٔ شوه، بیا به څهٔ کوّل؟

مرګ شته دے، نو ځکه ژوند کښې رنګ شته دے
بې تیارو دَ ژوند، رڼا به څهٔ کوّل؟

تا او ما دَ یو بل سره مینه کړه
دې کښې دَ چا څهٔ وو، چا به څهٔ کوّل؟

ما دَ ارمانونو مړې ماتې کړې
تا ازاروّل نو ما به څهٔ کوّل؟

دا چې نن ژوندي اوسي، نو دې نه نور
مینه کښې مجنون لیلا به څهٔ کوّل؟





دا چې په دې نیشت حالات کښې شتهٔ یمه
نور دَ چا ښېرو دعا به څهٔ کوّل؟

مونږ کهٔ دم درود تعویذ منلے نهٔ
پیر، فقیر او سېد، مُلا به څهٔ کوّل؟

یاره کهٔ زرین پرې نازېدلے نهٔ
ستا نرۍ نرۍ خندا به څهٔ کوّل؟

## دَ مزار چغه

دلته په هر چا دَ تورو خاورو ځلے جوړ شو
څنګه چې پهٔ ما دَ تورو خاورو ځلے جوړ شو

تهٔ به هم محتاج شې، دَ دعا لاس را ته پورته کړه
داسې چې په تا دَ تورو خاورو ځلے جوړ شو

Pukhto.Net

دوه سجدې دې څهٔ وکړې، چې غواړې په تندي محراب
سل دانې چې واوړي دَ تسبو په لاس راځي محراب

بې معنې منبر محراب، بې فائدې سجده رکوع
څو پورې چې جوړ نهٔ کړې، دَ مينې په زړګي محراب

فرق دَ زاهد او دَ مُلا دے په نيتونو کښې
يو ساتي محراب او دغه بل له خوساتي محراب

څوک پکښې په نغده خرڅوي سودا او څوک په پور
وړاندې دے کهٔ شا ته دے، دواړه تنه خوري محراب

دغه چې په چا باندې ودان دے، وارثان ئې دي
دغه په جومات باندې منبن خلق سيزي محراب

شونډې مسلمانې به مې خود پکښې سجدې کوي
هاغه بُت پرسته په تندي چې ورته ږدي محراب





دا چې ما بلې محراب ته، دا دې ما نه ښهٔ دے خو
دهٔ نه چې کوم ښهٔ دے، هغه ما پسې راوړي محراب

دا چې يو مقصد او يو مرام لري، نو بيا ولې؟
يه زرينه! دا خلق دَ يو بل نهٔ منې محراب

لفظ چې دَ "جانان" مې دَ جانان په شونډو شور شو
درد شو، څړيکې څړيکې شو، په ټول وجود مې خپور شو

زړه مې لېونے دَ محبت په بلا واوړېد
پرهېږده چې نې مات کړي دَ زمرې په ډلو سور شو

هسې هم خوږل کوې چې تا کړې راته برندې
دا خو په ما ستا دَ سترګو زور دَ پاسه زور شو

زړه مې لکه ګل دَ نمرپرست چې نمر ته تاؤ شي
پانې پانې خپور شو، دَ نمرمخې يار په لور شو

هاغه ده، لمبه لمبه راوخاته په بام بيا
بل بيا دَ سکنې مانبام په سکنه اور شو

تور دَ مينې څومره بلها شوخ و، څومره پوخ رنګ
ستا دَ انګو لسې زما دَ سترګو تور شو





اوس را ته سُور ګل اوربل کښې نۀ ږدې سُرخپوشې!
ګل شو بې وږمې کۀ نه، دَ وخت ضرورت نور شو

مونږ امن پسندو چې پرې فخر کړو اؤ ناز هم
هاغه مسلمان دَ دهشت ګرد په نوم پېغور شو

مونږ په هزاره کښې چې کرلې کوم ګلان وو
ګل شول پرېشانه، هر يؤ ګل پکښې سمسور شو

## فتوه

دَ ترهګرو خان مرګې بريدونه
غير انساني، غير مذهبي بريدونه

مُلا خاموش دے، فتوې نۀ لګوي
کوي په چنهو خونړي بريدونه

عشق داسې وطن دے، سرحدونه پکښې نشته دے
مینه محبت دے، نفرتونه پکښې نشته دے

څومره قافلې دَ عشق په لاره لاره تېرې شوې
تنګ دے، پرمختګ دے، پړاوونه پکښې نشته دے

اوس را ته دَ دې کلي کوڅې پردې پردې لګي
يه جانانه! ستا دَ پښو نښانونه پکښې نشته دے

"پت"، "ننګره"، "توره"، "وفا"، "تنګ" ده دَ "پښتون" معنا
دا دَ نن تصویر دے، خپل رنګونه پکښې نشته دے

مه خپروه زلفې دې، راځي ترې دَ بارودو بوې
اوس هاغه تازه ګلونه پکښې نشته دے

مینه دَ هیلو دَ وسیلو په پُل تېروځي نه
دم درود، تویزکې او منترونه پکښې نشته دے





اوس دې دَ خوانۍ نه هاغه دم او خم ختلے دے
هاغه اداګانې او نازونه پکښې نشته دے

راشه نن اختر دے، دَ دیدن بهانه جوړه کړه!
کلے کلویغي ده، قدغنونه پکښې نشته دے

چرته چې دَ امن او دَ علم رڼاګانې وې
هلته اوس مورچې دي، کتابونه پکښې نشته دے

دا چمن زرینه! جل وهلے، نوے کړ غوړې
زیړ دے مړاوې مړاوې، شنه نښانونه پکښې نشته دے

Pukhto.Net

## "خیبرپښتونخوا" جوړه شوه

مونږ ورته پرون چې "دَ زړه سر پښتونخوا" ووئیل
دوي وئیل، چې "دغه چا کافر پښتونخوا ووئیل"

څوک چې ترې منکر لکه هندوان له کلیمې نه وو
نن ورته هغو خلقو "خیبرپښتونخوا" ووئیل

تا له نصيبه خوشحالي يوړلې
ما دَ غمونو تريې جولي يوړلې

زما دَ زړهٔ تپولې بې وسه اسرې
تا دَ وعدو په سرکشي يوړلې

تا به زما نه تښتول خوبونه
دا خو تهٔ اوس خوب دَ خواني يوړلې

چې دَ رقيب سره مې ؤليدلې
هسې خندا دَ ناخوالي يوړلې

زړګيه! اوس دې ايرې نهٔ ټوليږي
دَ بېلتانهٔ تونديې سيلي يوړلې

زرينه! وخت دَ هر فرهاد ادم نه
څو مره شيرينې درخاني يوړلې





ما په کړاؤ کړاؤ وختونو کښې ژوندون کړے دے
لکه دَ درد مې پرهرونو کښې ژوندون کړے دے

زهٔ خو دَ داسې دَ حالاتو را تېر شوے يمه
دَ زوال په شپه مې هم رڼګونو کښې ژوندون کړے دے

اوس هاغه خلق مې په کانړو باندې سيورے وولي
چا له چې ما په انګارونو کښې ژوندون کړے دے

تهٔ دَ ازغو دَ وينې وينې خوي نه څهٔ خبر نې
دَ ګل ورمې! تا په ګلونو کښې ژوندون کړے دے

هغه دَ سترو شوګيرو په معنا نهٔ پوهيږي
چا چې تمام عمر خوبونو کښې ژوندون کړے دے

شتمنه! تهٔ به خان عظيم ګڼې، دَ "شتهٔ وُ" په زور
مونږ دَ غربت په عظمتونو کښې ژوندون کړے دے

اوس هم هغوي راباندې پښې دَ پاسه پړدي، تېروځي
هاغه چې چا مې په لاسونو کښې ژوندون کړے دے

ستا دَ کوځې گرد و غبار مې لاز نيولې نهٔ شي
ما په سيليو او طوفانونو کښې ژوندون کړے دے

وخته! دَ تورو بلاگانو نه مې مهٔ وېروه!
مونږه په تورو تورتمونو کښې ژوندون کړے دے

تا خو په ژوند کښې زهٔ په هېره هم ياد کړے نهٔ يم
بې وفا! ما دې په يادونو کښې ژوندون کړے دے

نن هم هغوي را ته دَ مرگ ښېرې کوي، زرينه!
پرون چې ما ورله په زړونو کښې ژوندون کړے دے

## کچکول

هېڅوک لاس دَ بل په لمبېدلو اوبو نهٔ وينځي
مونږ په دغه ډنډ کښې دَ جامو سره دانگلي دي
څوک وائي، دَ سوال په اوبو ژرندې چلېدې نهٔ شي
مونږ خو کارخانې دَ ټول وطن پرې چلولې دي





## ماشوم

وړې پاپې لهٔ خانه مخکښې اوړه
وهه چاچې په لوڅو پوڅو ورشه
اے دَ غمخوارې مور نيازبين بچيه!
دَ مور جولۍ له په خړپوڅو ورشه

بيا ورته شين شه په سلگيو نيولے
چې دلاسه دې الله هو باندې کړي
چې دې دَ پښو په پل پاپې واچوي
چې دې دَ لېچو په څانگو باندې کړي
بيا دې په غېږ للو للو کړي اودهٔ
په گرځېدو را گرځېدو کړي اودهٔ

ورته يتهٔ څو دَ ناز چقړې وُکړه
دَ مورولۍ خوږې جذبې ويښې کړه
په تتې تتې خوږې ژبې باندې
دَ دې دَ خوږ زړه حوصلې ويښې کړه
دې تا سره دے خپل ځيگر خوړلے
دې تا سره دے خپل اميد تړلے

دې ته دا ؤوایه، په فخر سره
فخر په ما کوه، چې خوان شمه زهٔ
تا به رڼا ته هم روانه کړمه
په خپلو پښو چې ور روان شمه زهٔ
زهٔ به دنیا ته ستا مقام ؤښایم
ستا لوي والي ستا احترام ؤښایم

زهٔ به هم لوې غوندې سړے مورجانې!
دَ خپل دَ قام اؤ دَ ملت جوړېږم
لکه باچاخان، ابدالي اؤ خوشحال
ټولې دنیا ته به عبرت جوړېږم
دَ دې تیارو نه به تا ؤباسمه
دَ اند پښنو نه به تا ؤباسمه

زهٔ به هم خم دَ خپل بابا په قدم
په تنګ ناموس باندې به سر ورکوم
چې مظلومان غریبانان نهٔ وینې
هغې ړندو ته به نظر ورکوم
دَ دار په سر باندې رښتیا به وائیم
لکه منصور دَ حق وینا به وائیم





دنیا به ټوله مینه مینه کړمه
په غزلونو به رنګینه کړمه
چې راکوې، په دې شودو مې قسم
چرته باطل ته به سر ټیټ نهٔ کړمه
ستا په حیا، ستا په پښتو مې قسم
جاهل انپړ به هسې لوي نهٔ شمه
خوشے لوړ به هسې لوي نهٔ شمه

ورشه زرین ته داسې هم ؤوایه!
ورته زما دا ارادې ؤښایه
چې دغه ټولې په قلم ؤلیکې
دا پاربدلې ولولې ؤښایه
زهٔ به دَ دهٔ دَ خوب تعبیر شمه
دَ بې‌نظیرو به نظیر شمه



Pukhto.Net

ستا درانهٔ درانهٔ غمونه څنګه ځانې کړم
په دې خس زړهٔ کښې به غرونه څنګه ځانې کړم

ډېر کهٔ اوښکو ته دَ ضبط ترمه بند خو
زهٔ په سترګو کښې سیندونه څنګه ځانې کړم

نن په خولهٔ مې چې دَ زړهٔ خبره راغله
په اظهار کښې اوس لفظونه څنګه ځانې کړم

ستا جلوې چې پکښې تل لمبې لمبې وي
هغه سترګو کښې خوبونه څنګه ځانې کړم

ډېر ښائېسته دے، خو بس تا ته نهٔ رسیږي
په ګلاب کښې ستا رنګونه څنګه ځانې کړم

ما دې زلفو له راوړي رنګ په رنګ دي
په تصویر کښې دې ګلونه څنګه ځانې کړم





اوس څهٔ چل خو راته وښایه جانانه!
په زخمونو کښې دردونه څنګه ځانې کړم

تا وئیل دی چې درخمه نو راځې به
په امکان کښې ګمانونه څنګه ځانې کړم

تهٔ چې یو نظر راؤګورې زهٔ وائیم
په لمحه کښې تول وختونه څنګه ځانې کړم

خپل وړوکي غوندې عقل کښې خالقه!
ستا دا لوې لوې قدرتونه څنګه ځانې کړم

خپل په سترې ژوند کښې پرېشانهَ!
دَ نیازبین جانان نازونه څنګه ځانې کړم

خدایه! دومره دَ شعور وزرې راکړې!
چې دَ زمکې نه تر عرشه الوُتل کړم

بې له تا نه زهٔ نیمګړے نیمه خوا ؤم
محبته! په هر څهٔ دې مکمَّل کړم

عشقه! دا دې ما زرین باندې احسان دے
چې په خپلو لمبو کښې دې شامل کړم

## اټمي طاقت

زمونږ دَ وطن صدر محترم را نه یؤ نهٔ سي
دا ښکلے ګوډاګے وزیراعظم را نه یؤ نهٔ سي

اسامه ئې ترې یوړهٔ جرنېلان په خوب اودهٔ وو
کافره امریکه ده، اټم بم را نه یؤ نهٔ سي





خدائے دې ګل کړه دَ ګلابو، زهٔ دې ګل کړم
زما مینې! زهٔ دې تول بدل کړم

محبت را له دَ زړهٔ تیارې رڼا کړې
لکه غوړ لیت ئې په توره شپه کښې بل کړم

یؤ دلیل مې نهٔ مني، تا را نه غوارې
لېونے زړهٔ اوس په څهٔ باندې قائل کړم

دَ جانان دَ یاد دَ هجر دَ شپې ناوې!
راشه راشه! چې دې زلفې ول په ول کړم

تور بنګړي دې ور له کړل په سپینو لېچو
بنګړي والې ستا لاسونه راؤړه! ښکول کړم

دَ رخصت او ښکې دې ما نهٔ پرېږدي تګ ته
خم په مخه مخه، شا شا ته کتل کړم

تورو تورو شپو کښې بې له تاخوبونه نۀ راځي
اوږمه رااوړم، په يو خوا خوبونه نۀ راځي

اے دَ اسمان ستورو! ځئ اودۀ شئ! خوبولي يئ
ما له خو والله چې بې اشنا خوبونه نۀ راځي

شمعې ته پتنګ په غوږ کښې ووېل، چې ښکل دې کړم
مړه شه! چې اودۀ شو، په رڼا خوبونه نۀ راځي

پټې کړمه سترګې، ښۀ پرې زور کړم، چې به راشي خوب
نۀ راځي په زور، هم په رضا خوبونه نۀ راځي

ډېرې کليمې او دعاګانې په ځان چُوف کړمه
نشته دے دوا، نو په دعا خوبونه نۀ راځي

ډېرې تسلۍ او دلاسې کۀ زړۀ له ورکړمه
نۀ راځي جانانه! په رښتيا خوبونه نۀ راځي





ټوله شپه دَ شمعې په شان ستا په ياد کښې بل شمه
څرېکې څرېکې کېږم، تر سبا خوبونه نۀ راځي

شور دَ خاموشۍ مې دَ زړۀ کور په سر اخستے دے
هېچا له په شور او په غوغا خوبونه نۀ راځي

اے دَ لېونۍ دَ سرو سرو شونډو لېونے خياله!
وخانده! چې خاندو، په ژړا خوبونه نۀ راځي

کله چې دَ چا نه زړۀ چاؤدلے غزل واؤرمه
نۀ راځي زرينه! ما له بيا خوبونه نۀ راځي

## توان

من او دَ سلوا دَ ورکولو توان مو نشته دے
پياز به مېلمستيا کښې ورکوو، خو ډک دَ نيازه وي

غم او په ښادۍ کښې دَ نوم ووړې ځان ته نۀ ګوري
نن ئې سترګې پټې وي، سبا له ئې خُولۀ وازه وي

# زما عقل

چې په کومه زمکه اوسې دا گلزار کړه!
بیا د نمر، ستورو، سپوږمۍ پله رفتار کړه!

دا جنګونه، فسادونه، لوږې، تندې
ټول د خپلو نه راؤباسه! ګزار کړه!

ته چې وائې، زه د هر څه نه خبر یم
ډېر کمعقل ئې بنده! خدائے دې هوښیار کړه!

که خان مرګ نه بچ کولے شې، نو بچ کړه!
د دې ټولې دنیا عقل په خان بار کړه!

که د خدائے د لوې والي رازونه ګورې
موتے شګه لاس کښې واخله، بیا ئې شمار کړه!

که دې شمار کړه پرېشانه! عقلمند ئې
که دې شمار نه کړه، توبه استغفار کړه!





ساقي! ما ستا د پېرزوینو نه توبه کړې ده
ما د یو یو څاڅکي څکنو نه توبه کړې ده

ستا د ګل ګل سترګو چاپېره غنې غنې بانه
چا د ګلونو، چا د غنو نه توبه کړې ده

اوس هغه کلي، هاغه چم، هغه کوڅې ته نه ځم
چې مې جانان د بام خاتنو نه توبه کړې ده

ما وې، "زما د زړه درزا درته در رسي که نه؟"
هغې وې، "ما د غوږ څارنو نه توبه کړې ده"

ما وئېل، "نور به په ما څومره ستمونه کوې؟"
هغې وئېل، "نور مې زیادنو نه توبه کړې ده"

ما وې، "د سکونې مړنۍ ګرېوان ګنډې؟" وئېل ئې
"ما د ریښې ریښې ګنډنو نه توبه کړې ده"

زرینه! نن مې په زړه هاغه خلق ؤور بدل
چا چې زما د یادګیرنو نه توبه کړې ده

لکه پتنګ چې پرې لمبه کېدلے نهٔ شم
دَ حسن شمعې هسې ځان ته بلـوْلے نهٔ شم

دَ ګل ګل سترګو دَ ازغو ازغو ښو په ستنو
دَ خپل ارمان ریښې ریښې ګرېوان ګنډلے نهٔ شم

چا له ګجرې جوړې کړم؟ چا له په کمڅو وېړوئیم؟
هسې تنکي ګلونه را تـروړلے نهٔ شم

هاغه څنګل به دَ بل سر دَ لاندې څهٔ کېږدمه
چې اوس ئې خپل دَ سر دَ لاندې تینګوْلے نهٔ شم

دَ بل وژل، دَ ځان وژل دي کهٔ پوهېږې پرې څوک
زهٔ لا ژوندون غواړمه، ځکه ځان وژلے نهٔ شم

تا نه دَ حق ونیلو ربه! دومره توان غواړمه
چې دَ ظالم اوْ زورور په مخه غلے نهٔ شم

زهٔ کهٔ شعور، زهٔ کهٔ ضمیر ژوند ے لرم زرینه!
دروغ کهٔ هر څومره خوږهٔ دي، خو ونیلے نهٔ شم





په سکنې سکنې ماښام کښې، ښېرې مهٔ کوه! قبلېږي
نوې نوې یارانه ده، نو بنګړي خو به ماتېږي

تهٔ کهٔ ډېر را نه مخ پټ کړې، تهٔ کهٔ ډېره را ته شا کړې
غم ښادي ده، کلوېغي ده، خامخا سترګې جنګېږي

دَ اغیارو غمازیانو، لمسون مهٔ اوْره جانانه!
ګوره دوه لوښي جنګېږي، چې په یوْ کور کښې اوسېږي

کهٔ دا ټول کلے را ټول شي، کهٔ دا ټوله دنیا راشي
په ما ګرانه ستا زما په مېنځ کښې هېڅوک نهٔ ځائېږي ،

ښهٔ ده ښهٔ چې ځوانیمرګ شم، دَ ځوانی غندل مې مات شي
ستا ځواني به لکه پانې پانې ګل په ما غوړېږي

تهٔ به ښهٔ وائې، خو ستا څهٔ؟ تا خبره وه چې وْکړه
سوزي هاغه ځائے ناصحه! چې په کوم ځائے اور بلېږي

نهٔ څهٔ وْشول، نهٔ به وْشي، نهٔ مې وْکړل پرېشانه!
ببګا کېږي، سبا کېږي، عمر دغسې تېرېږي

زما نه پاتې ستا کوڅه شوه، بيا به نۀ درځمه
راپسې جوړه هنګامه شوه، بيا به نۀ درځمه

څۀ په ځان زۀ نۀ شومه پوهه، څۀ وه ستا ناپوهي
خبره خامخا اوږده شوه، بيا به نۀ درځمه

نۀ هغه رنګ شته دَ محفل، نۀ دَ مېخوارو مزه
ورانه ويجاړه مېکده شوه، بيا به نۀ درځمه

دا ستا دَ چم دَ ديدنونو جنتونو کوڅې
دَ ارمانونو هديره شوه، بيا به نۀ درځمه

دا زما ستا دَ لېونۍ مينې رښتونې قيصه
په درست جهان باندې خپره شوه، بيا به نۀ درځمه





چرته دَ شاتو نه خوږه دا زما ستا مينه وه
لاړه دَ زهرو نه ترخه شوه، بيا به نۀ درځمه

دَ ملاقات په ګنګوسو کښې دَ وصال وختونه
هره ښکالو راپسې غلَه شوه، بيا به نۀ درځمه

دَ خيال ځانګو کښې دَ زرين سلګيو نيولې مينه
په "الله هو دَ وخت" اوده شوه، بيا به نۀ درځمه

## دَ لرې لرې نه

ځنې رښتې څومره خوږې ښکاري
دَ لرې لرې نه نږدې ښکاري
چې دَ نږدې نه ئې نږدې وګورې
په مېنځ کښې ډېرې فاصلې ښکاري

## نيکي اؤ بدي

نيکي دَ هر چا سره ښۀ ښائي، چې څوک ئې کوي
کۀ څوک پرې نۀ ښکاري مؤمن، نو ښۀ انسان ښکاري
بدي خو بده ده، دَ هر چا سره بده لګي
خو چې په ډېره څوک کوي، څومره شېطان ښکاري

بمې چاؤدنې اؤ سېلاب ۱۱/۰۹/۲۰۱۰



Pukhto.Net پښتو

# په اور اؤ اوبو کښې اختر

وطن کښې شور دے، چې "اختر دے سبا"
په پښتور کښې سپوږمۍ ؤښکارېده
دَ اختر میاشت هم هغو ؤلیدله
چا ته چې میاشت دَ روژې نۀ ښکارېده

اختره! ټول عمر ژوندے ئې خکه
ستا په چا څۀ دي؟ کۀ څوک مړي، خوراځي
لکه دَ دې وطن دَ صدر په شان
څوک دې مني کۀ نۀ مني، خوراځي

اختر دَ کور کلي محلت سره وي
په بیابان کښې اختر چا کړے دے؟
مونږه ژوندي خلق په مړو یو حساب
په قبرستان کښې اختر چا کړے دے؟





اختره! دلته به څان ؤ نۀ ښائي
دلته ښارونه په تیارو کښې دي ډوب
دلته کښې کلي په بمونو دي وران
دلته کورونه په اوبو کښې دي ډوب

مونږ لا په څان یو، خپل دردونه ژاړو
په دې ماحول کښې تا نمانځلے نۀ شو
اختره! مونږ لا په بمونو سوزو
تا پکښې څان سره سېزلے نۀ شو

ته به زمونږ نه سنګارونه غواړې
مونږ لا په خټو کښې ککړي اوسو
ته به په نڅې اؤ تماشې لټوې
مونږ په ژوندو تنو کښې مړي اوسو

خپلې نکریزې هسې مۀ شرموه!
چرته لاسونه چې په وینو دي سره
هلته به ګل په څنه څنګه تومبې
چرته ګلونه چې په وینو دي سره

زمونږ بچو ته تا دے چل ښودلے
تا پرې کړل د پښتو ډزونه
اختره! دا دې کومې لوبې وکړې
چې اوس د ځان سره تړي بمونه

د دې چمن، د دې ګلشن وارثان
په خپله خپل باغي عدن ورانوي
د پښتنو بچي دي څه لېوني
د خپله لاسه خپل وطن ورانوي

څوک د ګولو په ډزو ساه ورکوي
څوک د بمونو په چاؤدنو کښې مري
هر خوا ته ژوبل وينې وينې دے ژوند
څوک په حجرو، څوک جوماتونو کښې مري

مونږ خو د هر چا نه دينداره يو ډېر
زيږې ساتو اؤ هم نمونځونه کوو
مونږ ثوابي حقې روژې هم نيسو
مونږه عمرې اؤ هم حجونه کوو





اختره! مونږ لا په دې فکر يو چې
په مونږه ولې عذابونه راځي؟
څوک زلزلو، څوک په جنګونو کښې مرو
په مونږه ولې سېلابونه راځي؟

دا معمّه چې مو شي حل اختره!
خپلې ګناه نه به توبې وباسو
بيا ته راځه چې خنداګانې کوو
چې مونږ د دې جانبې نه پښې وباسو

## وسيله

ته په دې خاورو کښې څه پټې خزانې لټوې
که ما سره مې د شلېدلي هار دانې لټوې

زۀ ښۀ پوهېږم پرېشانه! څۀ وره خو نۀ يم
چې يارانې له د خبرو بهانې لټوې

باد په چينارونو دَ سپرلو څنګه خاموشه شو؟
شور دَ غلغلو پرې دَ مرغيو څنګه خاموشه شو؟

هاغه بام، چې تود به پرې محفل ؤ دَ سکني مابنام
اوس په مستو مستو قهقهو څنګه خاموشه شو؟

بيا سم دَ مابنامه خطره شوه، شمعې مړې شولې
ښار دَ رڼاګانو په تيارو څنګه خاموشه شو؟

هاغه مټښن زړۀ چې درزېدۀ مې دَ بنګړو په شړنګ
اوس دې مازيګر په تماشو څنګه خاموشه شو؟

اوس خو ماشومان دَ وېرې کور کښې پټېټوني کړي
شور زمونږ دَ کليو دَ کوڅو څنګه خاموشه شو؟

چا چې په قاتل دَ قتل حد جاري کوۀ پرون
ګوره فتوه ګر نن په فتوؤ څنګه خاموشه شو؟





ما دَ غرۀ لمن کښې اؤرېدې چې په شپېلۍ دَ شپون
هاغه شپونکے څۀ شو، په ټپو څنګه خاموشه شو؟

شين شو په ژړا، ماشوم په چغو چغو وژړل
مور چې په سينه کړو، په خوږو څنګه خاموشه شو؟

ما وئېل، "دا خاؤره به لا نوره وينه څو غواړي؟"
دۀ را ته په برېتو لاس رابنکو، څنګه خاموشه شو؟

ورېم دَ بارودو ترې راخې، نو چينې شاړې شوې
جنګ اوس په ګودر کښې دَ منګو څنګه خاموشه شو؟

خپله څاڅکے وينه نۀ په تولـه دنيا وير کړله
دا قاتل زمونږ په جنازو څنګه خاموشه شو؟

مونږ دَ محبت په زمکه نال کړو، چې را ؤخاندې
يه زرينه! ګل په ټوکېدو څنګه خاموشه شو؟

دواړو رنګ د یوؤ اؤ بل اخستے دے
تا د ګل اؤ تا نه ګل اخستے دے

تاؤ راتاؤ په پېچ اؤ خم کښې ؤنخښتۀ
زړۀ مې ستا د زلفو ول اخستے دے

تۀ وائې، تا ولې په ګل ؤویشتم
دا مې درنه خپل بدل اخستے دے

تا کښۀ مې د زړۀ پښبور وران کړۀ، نو
ما درنه د زړۀ کابل اخستے دے

تا مې د دیدن تنده سړه نۀ کړه
ؤ مې ګوره رنګ ته، جل اخستے دے

تا وئېل، "تن ډېره پرېشانه یم"
نوم دې را له څۀ په چل اخستے دے





ما ته له خپله خانه ګرانه! تۀ خو داسې نۀ وې
دا په تا څۀ ؤشول؟ جانانه! تۀ خو داسې نۀ وې

شونډې دې ؤچې، سترګې سرې، زلفې دې ورانې ورانې
دومره خفه چرته له خانه، تۀ خو داسې نۀ وې

"مینه کښې شک دے شرک اؤ شرک کفر دے"، تا به وئېل
زما په مینه بدګمانه، تۀ خوداسې نۀ وې

د سر نه تېر، په د جانان په مینه مست زړګیه!
په محبت چرته پښېمانه، تۀ خو داسې نۀ وې

برنډ برنډ بانۀ راڅنډوې، لکه سوارۀ مُلا تېر
زما د زړۀ په کلي خانه! تۀ خو داسې نۀ وې

زما د کلکو حوصلو د غریبې ژوندونه!
په خپل وجود باندې ستومانه، تۀ خو داسې نۀ وې

نۀ دې پخېر، نۀ هر کلے، نۀ سترے مۀ شې ؤوې
دَ قدردانو قدردانه! تۀ خو داسې نۀ وې

چرته کښې زۀ هم ؤم سپين دروبے چې مئېن نۀ ؤمه
زما ريښې ريښې کړوانه! تۀ خو داسې نۀ وې

دا قيامت خېزه خونړي، دا خان مرګي بريدونه
امن پسنده مسلمانه! تۀ خو داسې نۀ وې

خلق دَ ما نه کړي تپوس، زۀ ورته څۀ ؤوايم
چې پرېشانه! پرېشانه تۀ خو داسې نۀ وې

## صوبه هزاره

مونږ تنګيالي دَ بټه ګرام اؤ دَ تورغر پښتانۀ
دَ اباسين، دَ پښتونخوا دَ سرلښکر پښتانۀ

مونږه دَ هېچا "تُسي پُسي" باندې نۀ تېرؤځو
زرينه مونږه يُو اول اؤ هم اخر پښتانۀ





## تول

چې دَ باچا خان پېروکار نۀ وي
هغه پښتون په نېغه لار نۀ وي

په خپل محسن چې سترګې واړوي څوک
په داسې خلقو څۀ اعتبار نۀ وي

امن، دَ عدم تشدد فلسفه
چې خپله نۀ کړي، نو هوښيار نۀ وي

چې دَ خپل خان وي اؤ په خان کښې اوسي
داسې سړے سړو کښې شمار نۀ وي

دَ خپل څادر نه چې پښې نۀ ؤباسي
هغه به چرته خوارو زار نۀ وي

دَ محلونو دَ بنګلو خاوندان
دَ جونګړو والو خدمتګار نۀ وي

هغه دیدن دمه دمه نهٔ کړي زړهٔ
چې پکښې سترګې انتظار نهٔ وي

زړهٔ دَ پړدي نه بهر نهٔ وباسي
هاغه ښائیست چې پرده دار نهٔ وي

څوک چې خپل نفس سره جګړې کوي
هغه جنګونو ته ؤزګار نهٔ وي

چې دَ بل خوري اؤ دَ بل ښکي زرینه!
هغه خپلواکه خپل اختیار نهٔ وي

## نادیده چې دیدور شي

غبرګ سمندر غلے بهیوي اوبهٔ
ارته ئې سینه ده، ځایوي اوبهٔ
دا وړوکے خوړ چې راشي، خړے شي
هر طرف شوریږي، شړبوي اوبهٔ





ښکلي بې لوظه دي وعدې ماتوي
منښان تول عمر توبې ماتوي

دَ چا نیکهٔ به ورته سم ؤګوري
په سمو سمو هم خولې ماتوي

ستا معنې خېزه تنده غرې کاتهٔ
دَ لویو لویو حوصلې ماتوي

ځنې کم ظرفه زر خریده عزت
دَ غریبۍ زړې رښتې ماتوي

ځنې کم فهمه دَ جهاد په نامه
پخپله خپل لاسونه پښې ماتوي

امن به هاغه کور کښې څهٔ راشي چې
دَ کور خاوند خپلې تمبې ماتوي

جمال، جلال دَ مال، حرص او هوس
دَ عابدانو عقیدې ماتوي

شي تماشه دَ تماشو زرینه!
څوک چې دستور دَ زمانې ماتوي

## اباسین ډویژن

رنګ دَ پښتونخوا دَ سُور سپرلي غوټو اخستے دے
سُر دَ بټه ګرام او دَ تورغر نغمو اخستے دے

تخت دَ هزارې پکښې زرینه! ډوبېدونکے دے
شور دَ "اباسین"، دَ اباسین چپو اخستے دے





ګرانه نۀ ده دا، هر څوک ژړلے شي په سترګو کښې
څنې څنې سترګې اوښکې څښکلے شي په سترګو کښې

خوب به دَ وصال په ګرمه غېږه کښې هغه کوي
تورې شپې دَ هجر چې ویستلے شي په سترګو کښې

ناست وي په محفل کښې ورک په خان کښې وي تنها تنها
ډک دَ مینې زړۀ خو پېژندلے شي په سترګو کښې

پر پړده ملاقات کښې به نور څۀ وي، خو وعدې ګیلې
دا منهن محفل کښې هم کولے شي، په سترګو کښې

دغه خو دَ مینې دَ شعور دَ ژبې پوهه ده
یۀ بل ته دَ زړونو حال وئیلے شي په سترګو کښې

ګرانه ده زرینه! را ګنډل دَ زړۀ زخمونه بیا
هسې خو دا جنګ هر څوک چېړلے شي په سترګو کښې

مازيګر ے د ے نمر ډوبيږي نو راياده مې شوې
زړۀ مې نر ے نر ے خوږيږي نو راياده مې شوې

واؤرينه شپه د ښاپيرو او د ديوانو قيصې
اور په اورغالي کښې بليږي نو راياده مې شوې

په اور بلوني د بل ليت لمبې لۀ سره لوګے
لکه د زلفو چې تاؤيږي نو راياده مې شوې

تال د پلالې په زيارت کښې د بټکر په ؤنه
د کلي پېغلې پرې زانګيږي نو راياده مې شوې

خاورين خاورين کور په نغري د خاورو توره کټوۍ
د شپيشتي ساګ پکښې پخيږي نو راياده مې شوې

هغه ګودر او په ګودر کښې د يادونو منظر
سترګې لۀ سترګو نه خاريږي نو راياده مې شوې





چرته ميرګاټ چرته چيندرو چرته د ژوند سندره
د مازيګر لوبې تؤديږي نو راياده مې شوې

درنګ له يو بل سره پخلا او درنګ له بيا مرؤر
ماشومانان په چم جنګيږي نو راياده مې شوې

چې د وريځې په پلوۀ د څوارلسمې سپوږمۍ
راښکاره کيږي او پټيږي نو راياده مې شوې

بنګړي لۀ قصده شرنګوي څوک کليواله جينۍ
په ښار کښې مسته مسته کيږي نو راياده مې شوې

د خندا پرق د هاغه بامه ورؤل اورونه
د غرۀ په سر آسمان پرقيږي نو راياده مې شوې

چينار چينار نښتر نښتر د شنو شنو غرونو په ويخ
چپې چپې تند يار بهيږي نو راياده مې شوې

په مازرين چې نې کؤو ستا د راتللو زيرے
په بلې ناست کارغۀ چغيږي نو راياده مې شوې

هر څوکه دَ ژوند تصویر نیمګړے دے
رنګ ورله فنکار پوره ورکړے دے

دا دَ زور دَ کلي زورَورو جنګ
مونږ لیونو خپل کور ته راوړے دے

سپک مهٔ ګڼه سترګو کښي به پرېوځي
خس سترګو له بس دے، کهٔ خسښے دے

خپل تصویر زما سترګو کښي وګوره!
څومره غنم رنګے سکښے دے

څنګ به لګوي پرې دَ قاتل فتوه؟
دا دَ نن مُلا پرونے چښے دے

اے دَ دې وطن دَ سباوون ناوې
خد و خال دې مړاوے، خړے خړے دے





تار دَ یارانې نهٔ دے چې وشلیږي
مینه دَ ولوَل ولوَلو پړے دے

ژوند دَ مسافر دَ غریبۍ په لار
څومره پرېشانه سترړے دے

## زما غزل

په دې خزان خزان موسم کښې دَ ګلاب تصوُر
کهٔ بې ورمې اؤ بې مزې وي، نو بخښنه غواړم

ما په غزل غزل جانان باندې غزل وُلیکهٔ
کهٔ څهٔ کمے زیاتے پکښې وي، نو بخښنه غواړم

# په دشت دَ اختر شپه

په دشت دَ اختر شپه وه، هواګاني شغېدې
رېګونه تاوېدل ترې، برېښوکي پرې ګډېدې

احساس دَ بې وسۍ مې دَ برداشت له حده تېر ؤ
شعور مې دَ قسمت په دام کښې نخښتے ؤ، راګېر ؤ
تقدير مې له تدبيره لکه پړے راچاپېر ؤ

اسرې مې دَ فطرت په قتل ګاه کښې قتلېدې

هر خوا ته په هر لور دَتنهايۍ کېفيت خپور ؤ
خاموشه خاموشۍ کښې مې دَ زړۀ په کور کښې شور ؤ
ارمان دَ خپل وطن مې لګولے په ځان اور ؤ

دَ هجر تلوَسې مې دَ تيرو نه بوږنېدې

فضا لوګے لوګے وه، ګرځېدل پکښې ګردونه
اسمان کښې هم دَ ستورو چرته نۀ وو محفلونه
سپوږمۍ زو چرته وړې اختريانو له رنګونه





دا سترګې مې داوښکو سمندر کښې ډوبېدې

زۀ ناست ؤمه، زما نه ګېر چاپېره بې کسي وه
دَ بغض په رسۍ زما دَ سوخت مرۍ خپې وه
بې ضبطه ولوَله زما دَ زړۀ زخمي زخمي وه

دَ زغم دَ درد دَ څړيکو نه مې وينې څڅېدې

ناڅاپه يوه چغه را ته ؤشوه لۀ صحرا نه
بيخي دَ هېچا دا توقع نۀ کېده لۀ تا نه
چې داسې کم قيمته به تۀ خرڅ شې پرېشانه!

تۀ دومره غورځېدې، چې خپل ضمير نه تېرېدې

ما وې ورته چې هو! زۀ يم خرڅ شوے څو پېسو له
نۀ خپلو خواهشونو له، نۀ خپلو خوشحالو له
ما ؤکتيو اختر خپلو وړو وړو بچو له

وړې وړې جذبې را ته په زول کښې موسېدې
په دشت دَ اختر شپه وه، هواګاني شغېدې

دَ وخت جبر ستا دَ مینې دَ جذبې نه مې راکاړې
خپل شعور اؤ دَ خپل فکر دَ ولقې نه مې راکاړې

دَ حالاتو دهشتونه، وحشتونه، مقتلونه
ټول دَ عدم تشدد لۀ فلسفې نه مې راکاړې

کۀ اغیار کۀ رقیبان دي، کۀ دَ کلي غمازان دي
ستا دَ چم نه مې ؤباسي، ستا کوڅې نه مې راکاړې

دَ دې دؤر توربان هم، نۀ پښتون نۀ مسلمان دے
دَ جومات لار را ته نیسي، لۀ حجرې نه مې راکاړې

دَ خوانۍ په یوه نۀ کړې ګناه باندې پښېمانه
محبت څومره کافر دے، چې توبې نه مې راکاړې

دې هند کې رقیب ته ګوره، چې جانان راسره ویشي
دَ پښتو اؤ پښتونخوا دَ قافلې نه مې راکاړې





ما وئېل، یوه لحظه به زۀ له تا نه جدا نۀ شم
غریبي څو بې پښتو ده، چې وعدې نه مې راکاړې

نۀ ماتېږم، نۀ شوکېږم، اے زرینه! کۀ هر څوک مې
دخپل قام اؤقبیلې، خپلې جمبې نه مې راکاړې

# ارفع کریم

ستا دَ وړوکې قد دَ ذهن دومره لویه رڼا
لکه دَ زمکې نه چې یؤ ګډوزے نمر ښکاري
درنګ له چې پرېوځي دَ زمکې دغه پورې په غر
نۀ به دا نمر ښکاري اؤ نۀ به بیا دا غر ښکاري
خو دا نن ورځ دَ کائنات دَ تاریخ پاڼه شوله
دې خوا کۀ لر ښکارېږي نمر، بلخوا به بر ښکاري
تۀ زمونږ سترګو نه پناه شولې، دَ زړونو نه نۀ
چرته نا چرته خو به ستا فن په نظر ښکاري

Pukhto.Net

# حديقه کياني

(.........)

تهٔ په رښتيني حديقه نې دَ رنګ رنګ ګلونو
ستا په وږمو وږمه وږمه شول دَ وطن بادونه
چې پرې راتول شول دَ سېلاب کړي زخمونه زمونږ
خدائے دې همېش لري تازه ستا دَ ښائېست ګلونه
دغه چې ځان ته درانهٔ وائي، سپک کارونه کوي
لکه دا ستا په شان به ؤ نهٔ کړي درانهٔ کارونه
دَ کومو زړونو پرهرونه چې ګنډلي دي تا
په هغه زړونو کښې به تل اباد وي ستا يادونه
اے دَ جلال! اے دَ ښکلا! اے دَ ښائېست مېرمنې!
اے دَ هر چا دَ محبت په درد دردمنې جينې!
ستا په سندرو کښې ښېرازه دي دَ ژوند رازونه
اے دَ انسان، انسانيت په درد دردمنې جينې!
دَ بنګله والو لهٔ بنګلو نه شو کېدلے ګله!
دَ جونګړوالو دَ خدمت په درد دردمنې جينې!
زرين به څنګه ستا نازونه په سر سترګو نهٔ وړي
دَ خپل وطن، دَ خپل ملت په درد دردمنې جينې!





ښتا په نظر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے
زما په سر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

زما دَ وينې وينې زړهٔ دَ درد دَ څرېکو ګله!
پرهر پرهر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

دَ غرهٔ لمن کښې دَ چينار په سيوري يخه چينه
هغه ګودر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

دَ سپرلي خپېزه موسمونو ګل وريں رنګونه
په هر منظر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

په سترګو سترګو کښې جنګونه او دَ زړونو درزا
په مازيګر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

هغه مېوند که ملاکنډ دے پښتنې ملالې!
دَ جنګ سنګر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

اے لۀ ازله خان سره نخښتے په جنګ پښتونه!
په لر اؤ بر کښې ستا دَ سترګو شور لاهاغسې دے

چې کوم زرین لـه تا ورکړې وه دَ شعر ژبـه
هغه شاعر کښې ستا دَ سترګو شور لاهـ غسې دے

## ملاله یوسفزۍ

ما وئیل، "نشته دَ مېوند هاغه ملاله جینۍ
دَ جنګ سنګر کښې دا دَ تنګ تپه بیا چا ؤکړله؟"

هغې وې، "دا یمه، قلم په لاس بسته په غاړه
دَ ملاکنډ په سر دَ امن ټپه ما ؤکړله"





## دَ وطن شهید

دغـه وینـې وینـې سـور سـصویر دَ چـا دے؟
چـې دَ اوښـکو ډکـې سـترګې پـه خنـدا دے

جنتـي حـوره پـه سـر ئـې ناسـته، خانـدي
عزرائیـل ورتـه لاس پورتـه پـه دعـا دے

دغـه څـوک دے؟ چـې پـه غوڅـو غوڅـو شـونډو
پـه سـلګیو سـلګیو کـښې چـا سـره لګیـا دے

اوښـکې تـوې نۀکړې، خالونـه بـه دې وران شـي
دا دَ ژونـد اخیـرنے خـواهش زمـا دے

دَ هـر کـور نـه دَ بـارودو لـوګے خیـژي
وینـې وینـې لـر اؤ بـر دَ پـښتونخوا دے

دا قیـصه دَ شـهیدانو ده زرینـه!
خدائے خبر دے، څوک صحي دے؟ څوک خطا دے؟



Pukhto.Net

# ځوانی مرګه

دَ ژوند داسترګے انتظار مې تاته وُنهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم
دَبنګړو شور مې ستادَزړهٔ درزا تـه وُنهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم

ستا دَ یادونو پـه زوړ خوشی مـزار
لکـه دَ شمعې هـره شپـه بلـه شوُم
دَ زول پـه شپـه کښې دَ یـو روڼ سباوُن
تـه پـه امید او پـه اسره بلـه شوم
تنها شوګیر مې دَمحفل غوغا تـه وُنهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم

ستا دَ یوې وعدې پـه طمع طمع
مـا دا دَ غـر هـومره ځـوانی تېـره کـړه
پـه مایوسـو پـه بې وسو کښې ګېـره
مـا خپلـه ټولـه زنـدګی تېـره کـړه
سوړ اسویلے مې ستاتُودې خنداته وُنهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم





مـا دَ رسمونو زنځیرونـه مـات کـړل
بې ننګه تـا راباندې ننګ وُنـهٔ کـړو
دَ مینې جنګ کښې دې یـواځې پرېښوم
دَ زمـانې سـره دې جنـګ وُنـهٔ کـړو
دَتورې شرنګ دې دَ مړانې میا تـه وُنهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم

خفـه پـه دې نـهٔ یم چې خپـل مې نـهٔ شوې
خفـه پـه دې یم چې مې خپـل ګڼلې
خفـه پـه دې نـهٔ یـم ازغـے وُخـاتې
خفـه پـه دې یـم چې مې ګـل ګڼلې
خفـه پـه دې یم چې دا راز دنیا تـه وُنـهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم

زرینـه ؤوایـه بې پتـه یـار تـه
پـه زړو پلونـو بانـدې بیـا رانـهٔ شې
چې پـه ژونـدون ئې رانـه مـخ پټوؤ
لـهٔ مـرګ نـه پس تـه بیا پـه مـا رانـهٔ شې
دَ خنـدا پـرق چې دې زمـا ژړا تـه وُنـهٔ رسید
ګرانه په دې درنه بخښنه غواړم



Pukhto.Net

زۀ دَ داسې افسانې دَ سر عنوان يم
کرښه کرښه په کاغذ باندې تاوان يم

چې مې بيا ژلې دَ واؤرې په غونډانو
چې ته هاغسې وَرَه شې او زۀ ځوان يم

په سرو زلفو کښې سپين مخ اوشنې شنې ستر ګې
دې رنګونو ښائيستونو ته حېران يم

کۀ کوڅه ده دَ حجرې کۀ دَ جومات ده
دَ سپين روبو غلو په کلي کښې تالان يم

زۀ او خان کۀ ستا دَيو آدم ځامن يو
بيا خو ستا په کَړې وېش کښې زۀ نقصان يم

زۀ زرين ملګرو خکه نۀ خرڅېږم
نۀ ليډر يم نۀ مولا يم او نۀ خان يم





دوختونو په ګردش کښې مې منين فکر په زغل دے
موده پس مې ستا يادونو بيا په زړۀ کړے يرغل دے

چې وارۀوو نو دَ واؤرې په غونډانو دې ويشتم زۀ
اوس چې ما په کانو ژلې دا دَ مينې تسلسل دے

په انسان پسې ورځي، څوک محلونو پسې نۀ ځي
زۀ خو تا لره درځمه ستا جونګړه مې محل دے

تاچې ځان راته سنګار کړو ستا ښائيست راته شکمن شو
دې کښې تاته ګناه نشته دلته هرسپين دروبے غل دے

دَدې مر خان چې ښادي وه دَبوډۍ ځوے ترينه هېر ؤ
نن چې قبر ورله کښېنې نو خانانو رابلل دے

کۀ دَهيچا پروا نۀ کړې نو مغرور او خودنما ئې
کۀ دَچاخاطر مدار کړې وائي دې کښې هم څۀ چل دے

دَفرهاد همت پیدا کړه خوږ به غر دې هډو ناوړې
ورته رسی او کۀ نۀ خو تر منزله خو مزل دے

مېړے خاورو کښې میشته ؤ نو ژوندے ؤکر خېدۀ به
چې وزرې ورسره شوې اوس راغلے ئې اجل دے

ځنې ځنې خلق وائې پرېشان هوښیار سړے دے
ځنې ځنې داسې وائې چې شاعر دے نو پاګل دے





هلته دَ نمر سترګه لۀ غرۀ نه پرېوته مازیګر
دلته سپوږمۍ لۀ بام دَ سره راخاته مازیګر

دلته په سترګو باندې سترګو لګؤل چکونه
هلته دَسکڼ مابنام په خولۀ کښې ورکړه خوله مازیګر

دلته دَ زړۀ سوړ اسویلے مې په تپه پورته شو
هلته کښې لښته دَ چندنو تاویده مازیګر

دَ سترګوړ وخت پیرزېږونې نادیده څارنې
چې تۀ زما شوې او زۀ ستا په تماشه مازیګر

په دهشت ګردو سترګو کېږی بارودی چاؤدنې
لوګے لوګے شو تول وطن لمبه لمبه مازیګر

منګے نلکه شوه، ګودر کور، تیمان چمونه
چې بیا مې ولې په زړګی راؤریده مازیګر

واؤرین واؤرین وږمه وږمه خوارۀ خوارۀ یادونه
باران باران شو پسرلے شبه شبه مازیګر

زرینه ډیر عمر مې پس دغه منظر ؤلیدۀ
وطن، سپرلے، اختر، جانان، داسې سبقه مازیګر

رندان چې مېخانه کښې مدهوشۍ ته رسېدل
دَ خود حقیقتونه بې خودۍ ته رسېدل

یو څاڅکے دے سپوږمۍ دَ کائنات په جبین خال
سپوږمۍ ته رسېدل نۀ دی خدائیۍ ته رسېدل

زما او ستا په مېنځ کښې کۀ هر څو دی فاصلې
اوس ګران نۀ دی لۀ مزکې نه سپوږمۍ ته رسېدل

یوه دانه غنم شو دَ آدم دَ غاړې طوق
څۀ ښکلی بهانه وه زندګۍ ته رسېدل

دخدائے په رنګ رنګ نۀ شي دَ خدائیۍ په رنګ شه رنګ
بنده کښې او سېدل دی بندګۍ ته رسېدل

په کلیو کښې نور څۀ دی خو دَ زیست عزیزولۍ
ورې ورې خبرې دښمنۍ ته رسېدل





شپخانو به وئیل چې اول بل دے پس ته خان
یو بل سره په جنګ ؤ چې پیالۍ ته رسېدل

عبرت لره پوره دے دَ تیرو تورو اورکے
نرے غوندې مېږے او بلندۍ ته رسېدل

ځان خاورو کښې کړه خاورې چې دې خاوره کړي زرغون
پستۍ نه پرېشانه دی هستۍ ته رسېدل

Pukhto.Net پښتو

زما دَ خوی اباسین په نوم

# پېغام

دغه سترے ژوند راته آسان کړه
آباسینه خدائے دې زرغوندې کښې خوان کړه

لکه تا دَ ګوتې نیسم ګرځوم دې
داسې ما لۀ لاسه وُنیسه روان کړه

په دې خاوره باچاهان نۀ پیدا کیږی
دومره بس ده په دې کلی دې خدائے خان کړه

چې تۀ خوان شې زۀ به نۀ یم نو بیا راشه
یو دوه اوښکې مې په قبر چراغان کړه
.





زما دَ خوی اسفندیار دَ سعودی عربستان نه دَ اختر په ورځ دَ ګرځنده تیلیفون یو پېغام په جواب کښې .دَ اسفندیار پېغام ؤ چې !

زما په مخ دَ بې وسې اوښکې لاؤچې نۀ دی
اختره هاغه چاله ورشه چې څوک غم نۀ لری

زما ځواب:

# حوصله

تا خو لا اوس اوس په ناشنا لارو سفر کړے دے
دَ ستومانۍ اظهار دې یاره دومره زر کړے دے

خدائے دې همیش لری په تا باندې دَمهر نظر
تا همیشه ما ته په دروند نظر ، نظر کړے دے

چرته چې ما کړے دے ستا دَ هېرؤلو کوشش
ما سره ستا یادونو جنګ کړے دے شر کړے دے

لۀ ما نه زیات به څوک پوهیږی دَ اختر په معنٰی
چې مې پردی وطن کښې تول عمر اختر کړے دے

# ګلونه را نه مهٔ غواړه!

جانانـــه! پـــه وطـــن دَ وحـــشتونو اور بلیـــږي
پـــه تـــا بانـــدې دَ مینـــې دَ رنګونـــو اور بلیـــږي

تـهٔ ګـل زلفـو لـه غـواړې، زهٔ لـه کومـه درلـه راوړم؟
سـپرلـې دې پـه لمبـو کـښېي، پـه ګلونـو اور بلیـږي